کابل

ادبي، تاريخي او اجتماعي

Jan 62

د پښتو ټولنې مياشتنۍ

خپرونه

پرله پسې ګڼه: ۵۰۷

قیام‌الدین خادم

د کابل سیند

دغه نظم د سږ کال په مطبوعاتی
جو ایز و کښې په پښتو اشعا رو
کښې درحمان بابا لومړی درجه
جائزه وړې ده .

سپینې واورې چه اوبه شوې د پامیر په لوړو څوکو
ترمې ترمې- لږې لږې -غلې غلې چڼید لې
له ناوونو-ګړنګونو- کمرونو او پاڼونو
زالویدلې- رغړېدلې- ځڅېدلې- بهېدلې
څه له دې خوا-څه له هې خوا زنځیری لښتی جوړ کړی
له ګلانو - له غاټولو- له ځنګلو راوتلې
له لښتیو نه شېلې شو ې - له شېلونه شوه خوړ ونه
چه خوړو نه سره یو شول په رود ونو ګډېدلې
له پامیره هرې خواته په سفر شولې روانې
ځغلیدلې -ترهیدلې -له فراقه ژړېدلې
له پنجشیره - له شتله - له غور بنده شوې رابنکته
له میدانه-له لوګره له تګاوه چه را تللې
یو قوت شو - په قوت بیا - د فطرت له لویه سده
د وریښمین تنګی له لارې ننګرهار ته ووتلې

(پاتې د پښتې په ۳ مخ کښې)

کابل

مرغومی (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ق) کال د ۱۹٦۲ کل دسمبر او جون

ژبنی، ادبی، تاریخی او اجتماعی

امتیاز: د پښتو ټولنې

د پښتو ټولنې مشر: گل پاچا الفت

مسؤول مدیر: محمد صدیق روهی

مهتمم: محمد مومن پټوال

په دې ګڼه کښې

شمېر	لیک	لیکوال	مخ
۱	سبك :	محمدصدیق روهی	۱
۲	داستهیتیك موضوع ...	دظاهر افق ترجمه	۷
۳	نوې ژبپوهنه رو ...	حبیب الله تزی	۱۳
٤	د پښتو ژوندی کلمات په...	عبدالحی حبیبی	۲۱
٥	پښتو تصفیه غواړی	خادم	۲٥
٦	دصحافت اهمیت	دواسعی ترجمه	۳۲
۷	اشعار	دځینو شاعرانو	۳۷
۸	دنشنیلزم سیر او تحلیل	حفیظ الله امین	٤۰
۹	بوډا (کیسه)	سیداحسان الله هیر	٤۹
۱۰	زوړحاکم (کیسه):	عبدالله بختانی	٥۷

داشتراك بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

دهېواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکوته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

دباندې ملکو کښې : ٥ امریکایی ډالره

دیوی کښې بیه : ۴

دشپږو میاشتو اشتراك هم منل کیږي

دپښتو ټولنې دجاری حساب نمبر په افغانستان بانك

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

اشتراك بیه په ادارد کښې هم اخیستل کیږي

پته

شیرعلی خان واټ نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

دټیلفون لمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجلې دټیلفون لمبر ۲۱۲۹۱

ځیړونکی : محمد صدیق رو هی

سبک

لومړنی خبرې : دیوې ژبې پر مختګ او تعمیم هغه وخت په ښه ډول امکان پیدا کولی شی چه علمی او ادبی آثار پکښې ولیکل شی او خلك یې زده کولو ته ضرورت احساس کړی. پښتو ژبه تراوسه پورې دې مرحلی ته نه ده رسیدلی چه د نورو فکر او نظر خپل ځان ته واړوی بلکه پخپله د پښتو د علمی او ادبی مطالعې تنده هم نشی ماتولی. که څه هم اوس د پښتو د پرمختګ دپاره زمینه برابره ده او ډیر اخبارونه، مجلې او کتابونه په پښتو ژبه خپریږی خوله بده مرغه پخپله پښتانه د علم او ادب په ډګر کښې دومره وروسته پاتې دی چه لکه څنګه چه بنایی دور ځپانو او مجلو مخونه په علمی او ادبی موضوعاتو نشی ډکولی.

البته د کاغذمخ تورول څه ګران کار نه دی مګر سپینو ل یې پوهه او زحمت غواړی. علمی آثار خو په پښتو کښې لیدل کیږی نه او کوم آثار چه مونږ یې د «ادبی» په نوم تپروو هغه هم زیاتره پر «ادب» باندې متکی نه دی او نه دادبی علومو پر اساس لیکل شوی دی مثلاً نن ورځ اکثر پښتانه لیکوال دژبپوهنې په نامه ډیرې زیاتی مقالې لیکی او خپرونې کوی مګر د ژبپوهنې پر الفبا باندې هم نه دی خبر. کیسی لیکی او شعرونه وایی بې له دې چه خپل سبك او خپله لار وپیژنی غالباً دیوه شاعر یا لیکوال په ډیر و اشعارو، کیسو او لیکنو کښې متضاد سبکو نه او مخالف فکرونه لیدلی شو دا ځکه چه له هغه سره د خپلې جهان بینی کلی نشته او د هر لیکونکی د پاره ترټولو لومړی شرط جهان بینی، د خپلې لار، سبك او مکتب پیژندنه ضروری ده.

سره له دې ټولو دا خپرونې او لیکنې که څه هم ډیرې نیمګړې تیاوې او خامی و لری له « هیڅ نه لیکلو » څخه ښې دی ځکه په لومړی سر کښې اکثر کارونه نواقص

او عیبونه لر ی او بیا ور وسته تکا مل او پرمختګ کوی هرڅوك دخپل وس اوظرفیت په اندازه کار کوی. ز موږ ننني مقد ار او ظرفیت همدادی اومونږ غواړو په دې وسیله د راتلو نکو د پاره لار هواره کړو. هغو ی به په خپل وار سره زمو نږ نیمګړ تیا و ې اصلا ح کړی، کږې لارې به سمې کړ ی او یا به نوی لارې منځ ته ر او باسی. فرض کړی ءزمو نږ لا رې له حقیقی هد ف څخه لیر ی دی او مقصد ته نه رسیږ ی بیا هم دادراتلونکو د پاره د عبرت درس کیدای شی اوهغوی به زمونږ تجربې له سره نه تکراروی.

نن ورځ پښتنو د خپل ثقافت د غنی کولو ضرورت احسا س کړی دی دوی پو هیږی چه په خپله ژبه ډیرژراو په ډیره اسانتیا کولی شی چه له علم او پوهې څخه برخه واخلی او ګټه ترې و کړی نو په همدې اساس باید ډول ډول علمي اوادبی آثار په پښتو ترجمه کړی، ویې لیکی او څیړنه پکښې و کړی. د پښتو دعلم اوادب بڼ باید په رنګا رنګ ګلونو ښکلی او سمسورشی. دادی دهمد ې مقصد پر بنا زه غواړم چه د ادبي سبکونو او ښوونځیو په باب ځینی مواد را ټول کړم که څه هم چه دو خت د لږ وا لی په نسبت ماو نشو کړای چه خپله څیړ نه او ټو لونه لکه څنګه چه زمازړه غوښتل پای ته ورسوم خو سره له دې دهغه مشهورمتل په استناد چه «که څوك غواړی بی عیبه ملګری پیدا کړی بې ملګری به پاتې شی» اویا «که څوك غواړی یو بې عیبه اثرولیکی هغه به په حقیقت کښې هېڅ شی هم ونشی لیکلی» جرأت کوم او په خپله څیړنه او ټولو نه باندې پیل کوم.

داد بی سبکو نو په با ب تراو سه په پښتو کښې په ډېر ابتد ایی ډول یواځی د(پښتانه شعراء) په مقد مه کښې لږ څه لیکل شوی دی ، ا و بل چا په د ې ډ ګر کښې څه ګام نه دی پورته کړی. ماته خپل ذوق او قریحې لار ښوونه و کړه چه دادبی سبکونو او مکتبونو په با ب مطالعه و کړم او ځینی مآ خذ پیدا کړ م که نه مو نږ دادبیاتو په پوهنځی کښې یو اځی د ادبی مکتبو نو په برخه کښې نه بلکه د لو ید یځ ادبیاتو په باب یوه کرښه معلو مات هم لاس ته نه دی راوستلی. هغه څه چه نن دادبیاتو په نامه لوستل کیږی ټول یې دعباسی خلفاؤ د دورې کتابو نه دی چه په مختصر ډ ول تدریس کیږی. زما مقصدله دغې یا دونې څخه دادی چه د « ادب پو ها نو» ا د ب مینانو ا و د اد بی مؤ سسو

پاملرنه دې ټکی ته را و ګر ځوم .

هر کله چه دادبی سبکونو بېژندنه دهر یوه لیکونکی او شاعر دپاره هر ومروپه کار ده او بې له هغې د یو لیکونکی اثر قدر او ارزښت نشی پیدا کولی نو ځکه مې دا دبی سبکونو تعریف او پېژندنې ته لږ څه تفصیل ور کړی دی. کومه ژبه چه ماپه دې پلټنه او څېړنه کښې استعمال کړی ده ښایی د تر جمې رنګ پکښې زیات وی او دا د وه سببه لری یو دا چه پښتو دهر ډول مطلب د افاده کولو دپاره نه ده پخه شوی او دا حقیقت یوه متر جم ته په ښه ډول ثابتیدای شی او بله دا چه زه دژبې په بر خه کښې مخصوصاً د بین المللی مصطلحا تو د اړ ولو لیوال او طرفدار نه یم .

نو له همدې امله هغه ادبی اصطلاحات چه دنړی په اکثر وژبو کښې په کومه بڼه مستعمل دی بې له دې چه په پښتو کښې نوی نومونه ورته وضع کړم په هماغه بین المللی بڼه یې استعمالوم .

د سبك تعریف او پېژندنه

سبك عربی کلمه ده چه دسرو او سپینو زرو دویلی کولو او تو یولو په معنی راځی او سبیکه د زرو ټو ټې ته ویل کیږی اما په اصطلاح کښې سبك د ویلو او لیکو خاص ډول او طرزته ویل کیږی. د عربی دسبك په مقا بل کښې ار و پا ئیا ن د (Style) کلمه استعمالو ی که څه هم چه د ستایل لغت د سبك په نسبت زیا ت جامعیت او ا ر تو ا لی لری ځکه چه دغربیانو (Style) دټولو کړو وړو (لکه نڅا رسم او دا سې نورو) دپا ره چه په یوه خاص او ممتاز ډول سره وی استعمالیږی دپاړ سوپخوانو اد باؤ به دسبك پر ځای دفن طرز ، سیاق ، طر یقه ، شیوه، اسلوب، ا دا او داسې نو ر ې کلمې استعما لو لې مګر اوس د سبك کلمه ډ یره تعمیم شو ې ده .

(Style) لاتینی کلمه ده چه له (Stilus) څخه مشتق شوې ده . ستیلو س داسې آله وه چه د هغې په و سیله به پر مو میا یی تا بلو ګانو باندې لیکنې کیدې .

د دې دپاره چه دغه آله یو و اضح ا و تېز تأثیر ولری با ید محکمه اوتېره جوړه شوی وای او هر چا به چه په دغه فن کښې مهارت درلود د خلکو له خوا به یې ستا ینه او لمانځنه کېده د دې په خلا ف هر چا به چه کلکه ا و تېر ه نشوه جو ړ و لا ی د ملامتیا وړو . دا کلمه و ر و سته اصطلا ح

شو ه ا و معنی یې هم و سعت پیدا کړ .
د ستا یل لفظ د کر ه کتنې (ا نتقا د)
په لار کښې د نقا د د پار ه د یوه معیار او
محك حیثیت لری چه د هغې په وسیله خپل
تصویب یا مخالفت ښکاره کوی .

ځینی ادیبان سبك په ډېر ساده ډول
تعریفوی او ځینی نو ر دغه اصطلاح په ډېر
احتیاط او دقت سره استعمالوی. د سبك په باره
کښې دوه تصورونه شته چه د اپلاتون او ارستو
(او له هعونه پخوا) وختوته راجع کیږی .
د اپلاتون د مکتب له نظره : ځینی عبارتونه
سبك لری او ځینی یې نه. په داسی حال کښې
چه د ارستو د مکتب له نظر یې سره سم ټول
عبار تونه سبك لری مگر د څر نگو الی له
مخې یو تر بله توپیر پیدا کوی . اپلاتونی
مکتب په هغو مضمو نو نـو بحث کوی چه
سبك لری او که نه، ارستو یی مکتب د لوړ
او ټیټ ، ضعیف او قوی ، ښه یا بد سبك په
باب څېړنه کوی .ددې دوومکتبونود اختلاف
په وجه د سبك تعریف اشکال لری او باید یو جامع
تعریف په نظر کښې ونیسو :

**سبك د کره کتنې اصطلاح ده چه د ځینو
په نظر نوع او د ځینو نورو په نظر یو کل دی
چه د هغې په وسیله دافا دې وصف یا ډول
پیژندل کیږی .**

د یوه بل تعریف له مخې سبك د کلماتو
هغه تر تیب ته وایی چه په خو رابنه ډول د لیکونکی
شخصیت ، مفکوره او ذهنی نظر څر گند کړی.
ډېر ښه سبك هغه د ی چه د لیکو نکی
یا ویونکی ذهنی مفکوره عیناً تمثیل کړی.
که څه هم د دغه مقصد لاس ته را وستل ډېر
گران دی مگر لیکو نکی زیار باسی تر کومې
اندازې چه بشری محدودیتو نه اجازه ور کوی
دغه مقصد تر سره کړی.

سبك له دوو عنصرو څخه مر کب دی :
مفکوره او د لیکونکی شخصیت . هر کله
چه په بشری ټو لنه کښې هېڅکله هم دوه
تنه عین شخصیت نه لری نو ځکه مونږ عین
سبکونه نشو موندلی. حتی د یوه سړی شخصیت
هم په مختلفو وختونو او جلا شرائطو کښې
یوډول نه دی ، له دې امله هغه سبکونه چه
د یوې کته گوری لاندې راځی په نسبی ډول
مطا لعه کیږی . په یوه سبك کښې هغه څه
چه لوستو نکی در ك کوی ، یو اځې لیکل
شوې مفکوره نه ده بلکه ځینی نورې ضمنې
اشارې Connotation هم ورسره شته همد غه
ضمنی اشارې دی چه فکرونو ته رنگ ور کوی
او د رنگونو توپیر او تر کیب پخپل ذات کښې
ډېر اهمیت لری . دلته زما مقصد له «رنگ» څخه

دلیکونکی احساسات اوذهنی حالات دی چه دیو ه فکر د افادې پر ډول ا غیزه کوی . له نورو روحی حالاتو څخه دیوه فکر تجر ید او انتزاع بنایی ډېر اشکالات ولری ، تردې چه ځینی پوهان (ا حساس ، فعل او انفعال) یو تر بله نه جلا کوی بلکه د ا ټول د شعوری ژوند یو تر بله نه بیلیدونکی حا لات گڼی . که څه هم د دې خبر ې د تر دید دپاره ځینی فزلوژیك دلائل هم شته. موږ ځینی لیکونکی احساساتی بولو، ځینې نور منطق له احساساتو سره گډوی او ځینی دا سې لیکو نکی هم شته چه په اصطلاح وچ منطق لیکی. مگر په دې ټولو لیکنو کښې د لیکونکی شخصیت د فکر تر څنگ ولاړ دی. زه به دلته دایدیالیستانو پر هغه فلسفه باندې خبرې نه کوم چه وا یی فکر ځانته مستقل موجود دی او دهغه وجود په انسان پورې منحصر نه دی .

ځکه چه د غسې « ماوراء الطبیعی» فکر ته د تجربې لاس نه ورسیږی او نه دهغه د تائید او تردید دپاره کوم معیار په لاس کښې شته. دا یوه داسې ادعاء ده لکه چه څوك و وا یی داسمان په ستورو کښې یو داسې ستوری شته چه هلته خره ژوند کوی او دهغوی تمدن زموږ له تمدن څخه ډېر پورته او لوړ دی . که څوك ورته ووایی چه ستا خبره حقیقت نه لری ،دروغ ده نو په ځواب کښې به ورته وو ا یی چه ته ورشه داسمان ستوری ولټوه نو هلته به ز ما د قول تصدیق و کړې. د «مطلق او مستقل فکر» ادعاء هم دغسې مثال لری . خو مونږ په تجر بی نړۍ کښې خبرې کوو، دلته مونږ فکر له شخصیت څخه جلا نشو څېړلی او په نتیجه کښې وایو چه سبك دلیکونکی فکر او شخصیت دی .

بوفون وایی: «سبك، پخپله سړی دی»، دشو پنهاور په عقیده «سبك د دماغ کړه وړه پېژندنه ده»، نیومن وایی چه « سبك یو فکر دی چه په ژ به افاده شوی وی. »

مونږ پخوا وویل چه دوه شخصیتونه یو راز نه وی ، نو ځکه دوه سبکونه هم یو راز نه وی په حقیقت کښې د سبکونو شمېر ډېر زیات دی. کره کتو نکی (Critic) زیا ر باسی چه د کته گوری لاندې یې راولی او طبقه بندی یې کړی. دوی د مثال په ډول ځینی سبکو نه د ملتن (Milton)، لیلی (Lyly) یا پوپ Pope په نامه یادوی په ې عقیده چه بنا یې په دغه و سیله دیوه لیکونکی سبك تعریف کړی او هغه په یوه داسې ډله کښې ودروی چا چه قوی شاعرانه اوښکلی نثرونه لیکلی وی. د دغو کته گوریو شرح بنایې له دې امله د توصیې وړ وی

چه د هغو بې شمیره سبکو نو څخه چه په نړۍ کښې وجود لري ځینې یې د سبك د کوم ټاکلی نوم له، مخې و پیژ ندل شي . مو نږ له ژورنالستي، علمي یا ادبي سبکونو څخه خبرې کوو د ځینو لیکونکو دلیکنې، ډول مجردیا واقعي، مقفي یا بې لطفه، ساده یا متصنع، دروند یا خندو ونکي، اصلي یا تقلیدي مړاو ي یا ژوندي بولو لکه چه گویا له دې ډولونو څخه هریو یې په خپل ذات کښې تر یوې اندازې پورې نهایي یا قطعي کنه گوري وي خو که مونږ وغواړو چه په واقعي ډول دسبك اندازه واخلو نو بایسته زیاتو ازموینو ته اړه لرو. مونږ داسې نهایي اصطلاحاتو ته ضرورت لروچه په خپل حساسیت سره تر یوې اندازې پورې و کولی شي چه دهر لیکونکي سبك له نورو څخه جلا کړي . که څه هم دامو ویلی دی. چه په آخري تحلیل کښې دوه سبکونه یو ډول نه دي. پخوا تر دې چه دسبك په ډولونو باندې خبرې و کړو لازمه ده چه دسبك په باب د اپلاتون او ارستو دمکتبو توپیر واضح شي

(نوربیا)

د ظاهر افق ترجمه

د چینی ادبیاتو څخه

داستیتیک «۱» موضوع څه شی ده؟

د کابل مجلې په (۸) ګڼه کښې د(ښایست یعنی څه) ترعنوان لاندې څه نه څه خبرې وشوې امادغه مقاله دطبیعی ښایست اواستیتیک پرموضوع باندې خبرې دی چه دغه خبرې اترې دچینی مشهورو ادیبانو- هنرمند انواو فیلسوفانو افکار اونظریې دی . په لنډ ډول دغه مقاله اودتیرې ګڼې مقاله دهغې مباحثې خلاصه ده چه په دا نژدې ورځو کښې د چین پوهنتونونو د «ښایست» په باره کښې کړې ده.

د دې مقالې یوه مهمه پوښتنه دا ده چه «داستیتیک موضوع څه شی ده». « دپورتنی پوښتنې په شاوخوا کښې خورا ډیرې خبرې شوی دی چه یو فیلسوف یې پریوه خوا کشوی بل ادیب اوارتیست یې بیابلې خواته . یعنی په ادب اوارټ کښې یې ادیبان یوډول تجزیه کوی او فیلسوفان بیا په بل ډول سره فکر پکښې ځغلوی .

(تسی-یی) چه په ادبیا تو کښې د پوره اقتدار خاوند دی داسې وائی :

« داستیتیک اساسی موضوع دا ده چه په خارجی واقعیت کښې ښایست مطالعه کړی .

داستیتیک ګرانه خبره داده : څنګه باید هغه قوانین پیدا کړه شی چه په هغه کښې ښایست یو ترتیب پیدا کوی او دښایست افکار انکشاف پکښې کوی چه همدغه قوانین دارټ اوهنر له مخې ښایست هم تولید کړای شی . دی فکر کوی استیتیک هغه وخت شروع کیږی چه دښایست احساس شروع شی. دی وایی چه موږ هغه ارتباط چه د واقعی ښایست او نفسی احساس ترمنځ واقع دی کشفولای شو په همدې ډول هیڅ مشکله نه ده چه ښایست دې ونه پیژنو- او په خپل ارټ اوهنر کښې دې واقعی ښایست پوره ترسیم نکړو .

د پیکنګ دپوهنتون پروفیسر(کنګ چین) د(تسی-یی) خبرې نه منی اووایی :

موږ باید داخبره ومنو چه زموږ انسانانو اجتماعی ژوند زموږ د کښتویا لوړو اد بیاتو سرچینه ده یعنی زموږ ارټ او اد بیات ټول له دانسانی ژونده څخه راشروع کیږی . نوهغه

(۱) AESTHETIC دښکلا اوهنر علم ته وایی .

وخت چه زموږ ژوند په ارټ اوادبیاتو کښې ترسیم سی نو ګواکې داخورا انکشافی مرحله ده چه دغه انکشافی مرحله ترواقعی ژوند- لوړه - مشخصه اوډیره قوی ده . مقصد داچه داستیتیک مطالعه دخارجی واقعیت د پیژندنې سره مرسته کوی او مهمه موضوع یې د هغه بنایست پیژندل دی چه د ارټ محصول وی .

دمثال په ډول: یو عمارت جوړوو په دې عمارت کښې ډول ډول خښتې- خاورې- سیمیټ او نور شیان استعمالیږی. اوس دغه سرای د مطالعې په وخت کښې هغه مواد چه دهغه سرای په جوړیدو کښې استعمالیږی زیات اهمیت لری یعنی سرای د خښتو ـ خاورو ـ سیمټو او نورو شیانو په نسبت بنه پیژندل کیږی نو که څوك وغواړی چه د سرای د بنایست اندازه معلومه کړی لازمه ده چه د معماری د فن له مخې ورته وګوری او اندازه یې کړی .

(چو ـ کنګ ـ چین) خپلو خبرو ته دوام ورکوی او وائی :

استیتیک دارټ مختلفې موضوعګانې څیړی او لاندې درې مهمې نکتې پکښې شاملې دی :

(۱) باید د استیتیک تاریخ وګورو . ذی وایی چه ارټ اوادبیات ترقی کوی او دغه ترقی یی د استیتیک له علمه سره مستقیمه اړه لری یعنی هر ځای چه استیتیک پر مخ تللی وی هورې ادبیات او هنرهم ترقی وی .

(۲) اجتماعی اهمیت :

دی وایی چه ارټ او ادبیات د یوې ایډیالوجی د ارتقاء او لوړو الی سره پوره مرسته کوی یعنی ددې د پاره چه خلك دارټ په ساحه کښې واقعیت وپیژنی او د ادبیاتو واقعی مسألې و څیړی نو لازمه ده چه د استیتیک قوانین د ارټ په لمن کښې مطالعه کړی . البته د ارټ او ادب دغه ارتقاً د انسانانو پر تعلیمی سویه باندې هم بنه اغیزه کوی .

(۳) دی په خپل درېیم قانون کښې وائی هغه بنایست چه د ارټ او هنر له مخې تشریح کیږی یو متکامل بنایست دی دغه متکامله مرحله یې د انسانانو د پاره داسې کمك کوی چه کښته اوغیر متکامله شکلونه په خورا واضح ډول سره معلومولای شی .

یعنی د استیتیک موضوع د ارټ او هنرد بنایست مطالعه ده چه د واقعی بنایست د پیژندنې د پاره کار کولای شی .

(چو) وایی: استیتیک داسې علم نه دی چه یواځې د ارټ په تیوریو پورې دې اړه ولری او نه یواځې د فلسفې په اړخو کښې څیړل

کیدای شی. بلکه داسې یوعلم دی چه دیوې خوا په ارټ پورې مستقیمه اړه لری او د بلې خوا د فلسفې سره ټینګه خپلوی لری.

(یو - وین - ین) چه په ادبیاتو کښې د لوی لاس خاوند دی او د هنر او ژوند د ارتباط په باره کښې یې ډیرې خبرې کړی دی د چو پر خبرو باندې انتقاد کوی وایی چه ښایست دیوه ارټیست دمغز او ذهن نتیجه ده. په داسې حال کښې چه استیټیك د ارټ موضوع ګانې څیړی. نو استیټیك هم د یوه هنر مند له مغزه څخه راوځی.

مثلاً د سرای په جوړ ولو کښې خښتې- خاوره- سمیټ او نور شیان یې د ژوند سره تشبیه کوونو به ارټ دسرای سره مشابهت ولری چه ګواکې د سرای ښایست او شکل د ارټ په ساحه کښې راځی او دمعمار دمغزو کاردی.

(یو) وایی چه ارټ او ژوند یو تر بله داسې رابطه لری لکه خام مواد چه پسله څه تغیره څخه په صنعتی موادو واوړی ځکه نو ښایست د ارټ او ادب په خامو موادو (ژوند) کښې پټ دی. هغه وخت که په اجتماعی ژوند کښې هنر او ادب شامل و نو ښایست او استیټیك هم پکښې موجود دی او که نه و نو ښایست.... هم نشته:

ددې د پاره چه ښایست د ارټیسټ دذهنه څخه را وځی دا خبره هم دلیل ده چه خښتې خاورې او نور مواد پخپل طبیعت کښې کوم رنګ وروغن (ښایست) نه لری اما څه وخت چه د ارټ له مخې په کارو لو یږی بیا نو ښایست هم پیدا کوی.

دا خبره باید وشی چه که سرای دخښتو خاورو، ګچو او نورو څخه جوړ کړو نو پخپله سرای دنوموړی مسالی (خښتو-خاورو-او نورو) انعکاس نه دی بلکه ادبیات او هنر د یوې جامعې د ژوند انعکاس دی.

د (یو) په فکر استیټیك عبارت دهغه علمه څخه دی چه د یوې جامعې دښایست را بطه دهغوی دواقعی ژونده سره و ښیی. دی وایی چه یو واقعی ژوند داستیټیك مختلفې مسألې میدان ته را وړای شی. دغه سبب دی چه په ځینو ټولنو کښې ترمخصوصو شرا یطولاندې ایډیالسټیك استیټیك میدان ته راځی او کله بیا د اسې استیټیك پیدا کیږی چه اساس یې ریالیزم وی. دا به ووایم چه د استیټیك مطا لعه باید دهر محیط په خپل ژوند پورې اړه ولری یعنی بد رنګه اوښا یسته ددوی په خپل واقعی ژوند پورې اهمیت لری. ګواکې دغه علم د خارجی واقعیت او هنری (ارټسټیك) ښایست تر منځ

یو پل دی. دی وایی چه داستیتیك علم په بنایسته کالو، ښو منظرو، رنګار نګ ګلا نو او نورو هنری مسألو پورې ښکاره اړه لری.

د (یو) ددې خبرو سره ځینی خلك موافقه لری اما ځینی یې مثبتې نه بولی. دی سر بیره پردغو خبرو نورې خبرې هم لری او داستیتیك موضوع په لاندې درو مفهومو کښې نغښتی بولی:

(۱) د خلکو په ژوند کښې د بنایسته او بدرنګه جلا کول په استیتیك پورې اړه لری:

(۲) دارټ دعمومی قوانینو مطالعه ده چه واقعیت په کښې تر سیم شوی وی یعنی هغه ارټ چه واقعی منظرې ولری په استیتیك پورې تړلی دی همدا سی دارټ تأثیر پرخلکو باندې له دغه موضوع سره اړه لری.

(۳) دشکل او بنا یست تر منځ را بطه هم داستیتیك په علم کښې داخلیږی.

(یو) خپلې خبری پسې اوږدوی او وایی چه په استیتیك کښې دالاندې مخصوص تناقضات لیدل کیږی.

(۱) د بنایسته او بد رنګه ترمنځ تناقض

(۲) داجتماعی ژوند د بنایست او دارټ د بنایست تر منځ مخالفت. البته دارټ هغه بنایست چه دایډیالوجی محصو لدی.

دغه پورته مخصوص تناقضات داستیتك په واقعی دنیا کښې موجود دی ـ دی وایی چه خیالات ـ دبنایست خبرې او نورې بیلې بیلې نظریې په ارټ او ادب کښې جلا جلا ساحې لری.

اما استیتیك دارټ او ادبیاتو عمومی قوانین ترڅیړنې لاندې نیسی په داسې ډول لکه دارټ اوژوند د تناقض مطالعه چه کوی.

خبره داده چه استیتیك خپله ساحه دارټ او ادب په موضوعاتو کښې محدوده نه پریږدی همدا سې ارټ اواد بیات او استیتیك په ډیرو مساء لو کښې ورننوځی امادوی هم نسی کولای چه داستیتیك په دائره کښې دې ځان بندی وساتی ځکه دارټ او ادب ډیرې خبرې سته چه دا ستیتیك سره اړه نه لری اما ځینی قوانین یې بیاد بنایست سره کمك کوی.

پس دارټ او ادبیاتو تیوری ترټولو دمخه د ارټ ـ ادب او سیا ست ارتباط معاو موی. ادبی او هنری مفکورې بیاد سیاست له مخې هم تجزیه کیدای سی.

دارټ او ادب ځینی نور شکلونه هم سته چه نفسی او ذهنی مفهومونه لری. استیتیك دارټ د مخصوصو او معینو شکلو سره اړه لری اما دارټ ادبیاتو او ډرامو د مخصو صو ـ اساسی او معلومو تیوریو د مطالعې ځای نسی نیولای ـ لکه د (طبیعت (۱) ډیالکتیك) چه د طبیعت معین قوانین راښیی

(۱) DIALECTICS OF NATURE

امادمختلفوطبیعی قوانینو دمخصوصې مطالعې
ځای نسی نیولای .
دارټ یو مشهور پروفیسر (هنګ - یی - جان)
د (چو) خبرې درستې نه بولی اوو ایی:
(چو) ټول ښایست دارټ او هنر نتیجه بولی
اواستیټیك بیادارټ دمطالعې دپاره استعما لوی
چه ګوا کې طبیعی ښا یست د هنری ښایست
په لاس کښې بندی کوی اودارټستیکی قوانینو
په واسطه غواړی چه دطبیعی ښایست اساسونه
دخاورو سره برابر کړی .
نو که چیرې موږ را ولاړسو طبیعی ښایست
دارټ ترلا س لا ندې کړو دلته د استیټیك
دمطالعې ساحه ډیره کوچنی کیږی او انکشاف
نسی کولای .
اوس نو (هنګ) داستیټیك په باره کښې
وا یی چه استیټیك عبا رت دی د « ښا یست
دعلمه څخه » .
استیټیك د ښا یست اوهنر قوانین مطا لعه
کوی که څه هم داقوانین دطبیعی یا اجتماعی
ښایست قوا نین وی .
دی وا یی : داستیټیك مشکل دا دی چه
هم په طبیعت کښې واقعی ښایست او هم ارټ
مطالعه کړی .
ټول هغه قانونونه چه پرښا یست او هغو
استیټیکی خیالاتومشتمل دی کوم چه دانسانانو
په دما غ کښې تر سیم شو ی دی داستیټیك
قوا نین دی. ددغو قوا نینو په سا حه کښې
ښا یست - اجتما عی قرار دا دی ښا یست -
طبیعی وضعیت - فزیو لوجیکی متو دونه او
دښا یست نور مختلف قسمونه داخل دی چه
ګوا کې داټو لې موضوع ګانې په ښا یست
سره او ښا یست بیا په استیټیك سره تشریح
کیږی .
دی وایی : داستیټیك اوا رټ دتیو ر یو
تر منځ یو څه اختلا ف موجود دی . هغه
مسا یل او قوانین چه ددا رټ په مخصو صه
ځا نګه پو ر ې اړه لری هغه پخپله په هنر یا
ارټ پوری تړلی اوپه عمو می ډول سره په
ادبیا تو کښې داخل دی خو هغه خبرې چه
دښا یست پهفعا لیتواړه ولری په داسې حال
کښې چه دسړی علمی اوواقعی ژوند پکښې
ترسیم شوی وی پهاستیټیك اړه لری .
(ما - چی) دفلسفې استاد داستیټیك پر
مو ضوع باندې ډیرې خبرې کړی اودفلسفې
د زاو یې څخه یې ښې څیړ لی دی . دی
د (یو) او(هنګ) د خبرو سره موا فقه نه
لری اووا یی استیټیك یوا ځی دا رټ ځینی
ښا خو نه نه څیړی اما ټولی لوړې اوژورې

چه یادارت په ساحه کښې او یائې په نامه دی تر بحث لاندی نیسی او څیړی یې .

یوازې دهنر یوه بنا خله تر څو کې نه نیسی بلکه دارت پر ټوله ډنه که یې ریښې دی او که یې شا خلې ځان را پیچی . دی دهنګ داخبره چه (استیتیک دښایست علم دی) صحیح نه بو لی ځکه په دی جمله کښې به نو لوی مقصد دښایسته او بد رنګه ـ رښتیا اوددرواغو یاداسې نور وجزئی شیانو په باره کښې تشریح وی .

بلکه د(ما ـ چی) په نظر استیتیک پرلاندې موضوعاتو مشتمل دی :

دارت ابتدا اودهغه طبیعت ـ دهنری تخلیق عمو می قوانین ـ په طبقا تی جامعو کښې دهنرا نکشاف . په سوسیا لیزم او کدو نیزم کښې دارت ما هیت، دارت اهمیت په ټولنه کښې انتقادی ارت، دارت تعلیم، دارت تصنیف، دارت مخصوص شکل او سبك همداسې نور.

دلوړو مو ضوع گانو څخه هره یوه یوه جلا موضوع ده چه تقریباً کتابونه کتابونه پر لیکل کیدای شی، اولیکل کیږی .

د(ما ـ چې) دغه فیلسوفانه نظر ډیرو پوهانو خوښ شوی دی اوډیر خلك داخبره ورسره منی چه داستیك موضوع خوراپراخه ده .

په نوموړی موضوع کښې نورو پو هانو ـ ادیبانو اوفیلسو فانوهم خورابنې بنې مباحثې کړی او دا ستیتیك موضوع یې خورابنه پسې څیړلې ده چه (یو ـ وین ـ ین) هم دښایست اواستیتیك په باره کښې تردغه زیات ګډ سوی دی .

خودا باید ووایو چه ترټولود (ما ـ چی) مناقشه کامیابه او طرفداران یې زیات پیدا کړی دی ـ دی په خپل پراخ نظر سره داستیتیك موضوع خوراپراخه بولی اوډیرې خبرې یې پکښې ورځای کړی دی . لنډه داچه دښایست او استیتیك په باره کښې دډیرو ادیبانو اوفیلسوفانو خبرې په دې اخرو وختو کښې نشرشوی دی چه نتیجه په خورالنډ ډول سره وویل سوه .

هرادیب اوهر فیلسوف دخپل مکتب اوفکر سره سم څه نه څه ویلی اوخبرې یې پر کړی اوموږته یې تریوه حده پوړې دا موضوع (داستیتیك موضوع څه شی ده) را روښا نه کړې ده . »

نو که دچاسره داسوال پیداسی چه ښایست یعنی څه اویا (استیتیك څه مفهوم لری ؟)

دغه دوې مقالی یوه دغه چه وویلې سوه او بله هغه وه چه په (۸) ګڼه کښې نشرسوه ښه کومك ورسره کولای سی .

پای

حبیب الله تږی

نوي ژب پوهنه
او
زړي خبري

ژبه او ادب :

که ګرانولو سنونکوته په زړه وی ماددې لړمقالو په لومړی برخه کښې یولړ مسائل اوسوالونه رامنځ ته کړی ووچه له هغو څخه څو سوالونه داوو :

ایاداخبره چه وایی :

«ځینې ژبې لکه انګلیسی او فرانسوی ترځینو نورو څخه لکه اسکیموچه کوم لیك دوداو یادملاحظې وړ ادب نه لری بښې دی .»

درسته ده او که یه ؟

ایاد احکم چه یولیکوال لیکی :

«نن زموږ ژبې هغه قدرت اوقوت چه دغور بلخ او غزنی نثرلیکونکود هرډول مطلب دبیان دپاره لاره په مطلق ډول سره د لاسه ورکړی دی .»

درست دی او که یه ؟

ایادځینو خلك دافکر چه :

«دالیزابت ددورې انګلیسی ددغې ژبې په تاریخ کښې بهترینه ژبه ده» یاداچه :

«دغوریانو ددورې پښتو ترټولو نه ښه پښتوده.»

صحیح دی او که څنګه ؟

ایاداچه ویل کیږی :

«شکسپیر اوملټن دانګلیسی ژبې معماران دی

یاداچه: «خوشحال خان دپښتو ژبې پلار دی .»

دافکر درست دی او که یه ؟

آیا دا چه ځینې خلك نن هم ژبه اوادب اودژبې اوادب دمطالعې ساحه ته سره ګډوی فقط ددې دپاره نه ده چه په اصطلاح اوبه خړې کړی او کبان پکښې ونیسی ؟

آیاداحکمونه په ترتیب سره داسې حکمونه نه دی چه سړی و وایی :

هغه رنګونه چه درافایل تابلوګانې پرې کښل شوې دی تر ځینو نورو څخه چه نقاشی نه ده پرې شوی بهتر دی . یاداچه پلانی انسان ترهابل څخه ځکه ښه دی چه عکس یارسم یې اخستل شوی یا کښل شوی دی .

یاداچه:

هغه قدرت چه دمرمرڅبرود هند د مغولو دامپراتوری په دوره کښې لاره او تاج محلونه ترې جوړیدل نن د غوډ بر و مطلق د لا سه ور کړی دی .

یاداچه:

هغه رنګونه چه دبهزاددژوندانه په شپوورځو کښې استعمال شوی بهترین اوتر ټولو نه ښه رنګونه دی .

یاداچه.

مجسمه او ډبره اویا کیمیا گری اونقاشی رڼ سره یوشی دی .

په دې برخه کښې څرنګه چه ددې لړ مقالو دلومړی سر نه تردې ځایه پورې شوې دی - زما فکر دادی چه بایدد منطقی اوسپینو ځوابونو دپاره دمخه ترهرڅه خبرې سره جلاشی . ځکه رموز د ژبې او ادب په عنعنوی مطالعه کښې ترننه پورې داسې راغلی ده چه اکثر ژبه، ادب اوحتی ثقافت هم دژبې او لیک یاتوری اوغږ یالهجې اواملا په څیرسره ګډ شوی او داپورته یاداسې نورسوا لونه او ګډوډ حکمونه هم له همدې ځایه راپیدا شوی دی .

امانوی ژبپوهنه دیوه علم په حیث خبره هسې ګډوډه نه پریږدی بلکه کوښښ کوی چه دژبې دمطالعې ساحه واضحه ښکاره او څرګنده کړی .

له همدې امله ده چه د نوی ژب پوهنې کره پوهان اومتخصصین دخپلو ژبنیو څیړنو په لړ کښې له ادب سره یوازې دومره تماس کوی چه فقط ژبه اوادب سره جلا یاداچه په ادب کښې دژبې رول څرګند کړی .

البته دغه پوهان دامنی چه «دژبې اوادب ترمنځ ارتباط طبعاً ډیرزیات نزدې دی . اما دابیاهم دد ې معنانه لری چه د ژبې او ادب مطالعه دې سره ګډه اوولړل شی. بلکه هغه باید پخپله ساحه کښې له یوه نظره وڅیړل شی اوداپخپله ساحه کښې له بل نظره .درسته ده چه درنګونو سره هم کیمیادان علاقه لری اوهم نقاش. مګردنقاش علاقه د رنګونود په ځای استعمالولو، مؤثرانتخاب اودخپلې نقاشی دپردې دښکلولوسره ده اود کیمیادان علاقه درنګونودترکیب اوتحلیل سره . پرته له دې چه دې یې په نظر کښې وی چه د غه رنګونه نقاش څنګه استعمالوی . دغه ډول ځینی فزیک پوهان د غږ متخصصین دی اوحتی کله کله په هغوغږونوهم کار کوی چه دځینوموسیقی آلاتو څخه تولیدیږی . مګرسره له دې هم له غږونوسره ددوی علاقه دیوه کمپوزدسازنده

اودموسیقی داوریدو نکو دعلاقې سره دومره زیات فرق لری لکه په اصطلاح له ځمکې تراسمانه .په همدې ترتیب دیوه ادبی هنرمند دهنری کار ـ خام مواد ـ دیوه ژب پوهان دعلاقې وړاوه کارموادی. مگردی هیڅکله هم په د ې پسې نه گرځی چه وشه دغه مواد دادبی مقاصدو دپاره استعما ل شو ی دی او یا کیږی که یه ؟ »

لنډه داچه د غسې چه دفزیك پوهانو او کمیا پوهانو علاقه او کار دیوه نقاش اویا کمپوزرد علاقې او کار سره توپیر لری دغه ډ ول دیوه ژب پوهان علاقه او کار هم دیوه ادیب د کار اوعلاقې سره فرق اری .

په همدې ترتیب دیوه ژب پوهان د کار ساحه هم دیوه ادب دمنقدیعنی هغه چادساحې سره توپیر پیدا کوی چه پرادب انتقادی څیړنه کوی. ځکه «دادیب اود ادب دمنقد سرو کار دئینوخاصو کسانو- مثلاً شکسپیر دبیان او غیرعادی لفظ اومعنی سره ده. پهداسې حال کښې چه دژب پوهانو علاقه لږ څه پهوسیعه اندازه اوفقط دویناسره ده . » له دې امله دا دی زه پهز غرد سره وایم چه دژبې اوادب دمطالعې ساحه سره ګډ ول او یاد واړه سره یو شی ګڼل ښکاره علمی کمزور تیا ده چه نتیجه یې فقط داو بو خړ ول او پکښې کبان نیول دی اوبس .

ځکه دپورته مثا لونو اوخبرو څخه پوره څر ګنده شوه دادا سې یو کار دی لکه چه سړ ی د کمیا علم دنقا شی دهنر ی مبا حثو یاد جیو لو جی علم دمجسمه سازی دمباحثو سره رټ ولړ ی اوبیا قلم راوا خلی د مجلو یا کتا بومخونه پرې تور کړی .

دادی اوس چه مود ژب پوهاند، ادیب اوحتی د ادب دمنقد کارو نه اود کار او مطا لعې بابونه سره جلا کړل ـ باید ژبه اوادب هم په همد ې صرا حت سره جلا او بیا دد ې خبرې پهرڼا کښې خپل لومړنی سوالونه پهواضح ډول سره حل کړو .

پوهان ادب له آره د مجسمه سا زی ـ نقا شی په څیر یو هنر بو لی ـ اما کو م څر ګند خصو صیت چه اد ب له دغو نورو هنر ونو څخه جلا کوی هغه دادی چه د ادب خام مواد ژبه ده ـ یعنی «څرنګه چه مر مر ژبړیاخته دمجسمه سازی خام مواد تشکیلوی دغه ډول ژبه هم دادب خام موادی . » یا پهبله ژبه څنګه چه د مر مر ډبرې تهیو غیرعادی ممتا ز او ښکلی شکل ورکړل شی نود هنر حد ته ور سیزی دغه ډول کله چه وینا

هم یوه غیر عا دی، ممتاز او ښکلی حد ته ورسیږی نو د هنر بڼه غو ره کړ ی او ادب بلل کیږی ـ له همدی امله «بلوم فیلد» د ادب تعریف داسې کوی :

«ادب ـ که تحریری وی او که شفا هی ـ عبارت دی د ښکلې یا په بل عبارت ممتازې وینا څخه .»

سپیر وایی :

«کله چه وینا فوق العاده ممتاز حد ته ورسیږی هغه موږ ادب بو لو .»

اما باید وویل شی چه بیا هم ظاهراً دژبې او ادب سره جلا کول دډبرې او مجسمې او دهسې رنګ او یوه نقش د سره بیلولو په څیر اسان نه ښکاری . مثلاً په دې باندې هر څوك په هر ځای کښې یعنې هم پخپله او هم په بله ټولنه کښې ـ په ډیره اسا نی سره حکم کوی چه دا هسې ډبره ده او هغه مجسمه یا بوت . اما دا حکم چه دغه وینا ادب ده او هغه نه ده لـه د ی امله چه مادی وجو د نه لری ـ لږ څه ګران ایسی . نو له دی امله سپیر د خپل پورته تعریف په شرحه کښې لیکی چه :

«زه په اسا نی سره دا ته شم ویلای چه کوم ډول وینا هو مر ه ممتا زه ده چه دې هنر یا ادب وګڼل شی . نو ځکه باید ادب په بدیهی ډول سره ومنل شی اما کله چه ادب په بدیهی ډول سره ومنل شو او حتی دیوې ټولنې ادبیات ټول هم شول . هلته بیا یو منقد یا څیړو نکی له دې خبرې سره مخا مخ کیږی څو د دغې ټو لنې دعا دی خبرو او ادب ترمنځ سر حد و ټا کی . یعنی دا څر ګنده کړی چه د دغې ټو لنې د داد ب تو پیر دعین همـد غې ټو لنې له عاد ی او غیرا د بی خبر و سر ه په څه شی کښې دی .

«او دا مساءله بیا هم کو مـه د تعر یف ـ مساءله نه ده . ځکه موږ پوهیږو چه دغه تر بحث لاندې وینا وې فقط دهغې ټولنې د پاره ادبی دی چه پکښې منځ ته راځی . » نه دهرې ټولنې د پاره . نو له دی امله ضرورده چه باید دهغه وینا وو ممیزات چه ادب بلل کیږی په عین ټولنه کښې دهم هغې ټولنې د کلچر د غو ښتنو سره سم تحلیل او څر ګندشی .

ځکه داسې کوم عـام تعریف د ادب به بر خه کښې نشته چه دې د هغه له مخې دهرې ټولنې د ادب او عادی خبرو یا ژبې ترمنځ سرحدات تعیین او څر ګندشی .

دا هیڅکله هم حتمی نه ده چه دې دیوې ټولنې ادبیات یا ټول ادبی ممیزات په بله ټولنه کښې هم ادبیات یا ادبی ممیزات ومنل شی . بلکه دا د

هر ې ټولنې په خپل کلچر اویاپه اصطلاح ذوق پورې اړه لری اوبس .

مثلاً په پښتو کښې دالنډی چه :

دیوال سوری کړه ګوته را کړه

پلارمې خټګردی بیا به جوړ کړی دیوالونه.

ښایی په یوه غیر پښتنی جامعه کښې هیڅکله هم څه ادبی کیف ونه لری .

یاهغه دزیړې غوا کیسه چه یې للی توړی خپلو نګیندو اولمسیانو ته اوروی اویاهغه کیسه چه یی چور نګی کا کا په اصطلاح په ډیر شدومد خپلو اوریدونکو ته کوی او هغویې هم په ډیره لیوالتیا سره اوری ښایی په کومه جا معه کښې هیڅ ادبی کیف ونه لری. امادا یو واقعیت دی چه. «په هره جا معه کښې چه تاریخ یا انتروپولوجی ته څرګنده ده پرته دیوې مهمې استثنا څخه(۱) ځینی داسې اوږدې یالنډې ویناوې شته چه د هغې جامعې خلك یې په ډیر تاوده زړه منی اوپه دې ټینګار کوی چه باید پرته له کوم بیخلن بد لون څخه په پر له پسې ډول له یو نه بل وخت ته پاتې شی . همدغه وینا وې دغی ټولنې ادبیات دی او په عمومی ډول سره دوه خصوصیته دا ب دپاره که جهانی نه وی نورې عام دی او هغه دادی چه :

«د بیان امتیاز او خاص سبك ».

همدغه دوینا امتیاز او خاص سبك دی چه په عمومی ډول سره ادب له عادی او غیر ادبی خبرو یا ژبې څخه جلا کوی او د هنر په لړ کښې یې دروی - اما کله چه وینا دادب یا هنر حد ته ورسیده او دا (په بدیهی ډول یادتحلیل په واسطه) موږ و منله چه دغه وینا ادب ده هلته نو باید بیا ز موږ تلقی هم ددغه ډول بیان په مقابل کښې تغییر و کړ ی. یعنی نور نو باید له هرې خواچه وی فقط دهنر په سترګه ورته وګورونه دهسې عادی و ینا یا ژبې په سترګه . ځکه په دې صورت کښې عادی خبرې یا ژبه د ادب په مقابل کښې دداسې خامو موادو حیثیت پیدا کوی فقط لکه مرمر - خټه یا برنج دمجسمې اویا هسې رنګونه دنقاشی دتابلو په مقابل کښې .

البته درسته ده چه په دې صورت کښې هم ژبه دادب سټه ده اوپرته د ژبې څخه ادب اصلاً موجودیت نه شی پیدا کولای . مګر دا اصالت او اهمیت څرنګه چه د مقالې په سر کښې وویل شو- بیا هم ددې معنانه لری چه ژبه او ادب دې یو په بل کښې سره ورك کړل شی او دا دې وویل شی چه څرنګه چه نن په پاړسو ادب کښې دا نوار سهیلی یاداسې کوم بل لرغونی

(۱) - دلیکوال مطلب غربی جامعه ده.

ادبی اثر معادل څوك نه شی رامنځ ته کولای نومعنایي دادی چه پاړسو ژبي خپل لرغونی قدرت په مطلق ډول سره دلاسه ورکړی دی . ځکه کله که څوك داسي یوحکم کوی نودا ښکاره ده چه دی ژبي اوادب ته په یوه ستر ګه ګوری او هیڅ فرق یي هم نه سره کوی .

حال داچه داخبره لویه اشتباه ده او عین داسي خبره ده لکه چه سړی ډبره اومجسمه یاعمارت رنګ اود نقاشی تابلو اوهسي غزونه او کمپوزرټ سره یوشی وګڼی. ولي یوه ادبی پارچه دیوي تابلو - مجسمي - کمپوز اویا عمارت په څیر هنردی اوژبه درنګ - ډبري اوهسي غزپه څیر دهنر خام مواد.

نوله دي امله دادی زه هغه حکم چه موددي مقالی پهسر کښي دڅیړلود پاره را اخستی و په زغرده سره تردیدوم اووایم داحکم چه:

«نن زموږ ژبي هغه قدرت اوقوت - چه دغور بلخ او غزنی نثرلیکونکو دهر ډول مطلب دبیان دپاره لاره - په مطلق ډول سره دلاسه ورکړی دی...»

عین داسي حکم دی لکه چه سړی ووایی:

هغه قدرت چه دمرمر ډبرو دمغلو دامپراتوری په دوره کښي لاره او تاج محلونه تري جوړیدل نن دغو ډبرو مطلق دلاسه ورکړی دی. یاداچه سړی ووایی رنګونو نن هغه قدرت مطلق دلاسه ورکړی دی چه یي دبهزاد د ژوند انه په شپو ورځو کښي لاره اوډیري عالی تابلو ګانی پري کښل کیدلي .

حال داچه دغه حکمونه هیڅ کله هم علم اومنطق نه شی منلای. ځکه رنګو نو یا ډبرو خپل قدرت دلاسه نه دی ورکړی او نه په مرمر یا رنګونو کښي څه خرابي راغلي ده. بلکه کله که فرضاً نن څوك دبهزاد په څیر ښکلی انځورونه نه شی کښلای او یا تاج محلونه نه جوړیږی نومعنا به یي داوی چه هنر سقوط کړی دی او یاداچه هنرمند نشته نه دا چه رنګونه اوډبري یعني خام مواد خراب شوی اویا نشته دی (۱) .

«۱» - البته داچه بیادادب اوهنر له نظره هم داخبره چه یوتن لیکوال وایی:

«تاسي کولای شی دچهار مقالي - کلیله و دمنه او انوار سهیلی سره دننی بهترین نثر دمقایسي له مخي دموجوده عصر دنثر په کمزورتیاو پوهیږی..» درسته ده او که یه دا بله موضوع ده او دشخص په قضاوت اوطرز تفکر پوري اړه لری. ځکه یرته له هغو هنغه پسند انو څخه چه هر حکم یي پر «الفضل للمقدم» بنادی نور دیر خلك ښایی داخبره و نه منی چه انوار سهیلی د صادق هدایت تر «بوفکور» اویاد جمالزاده تر «دارالمجانین» یا «صحرای محشر» څخه اوچت هنری اثر دی ځکه دوی ښایی پدی فکر وی چه «بوفکور» او «دارالمجانین» دپاړسو دننی ادب شهکارونه دی او انوار اسهیلی او کلیله او دمنه دیرونی . نه داچه دغه شهکاردی او هغه نه.

دغسې ژب پوهان دا خبره هیڅکله هم نه شی منلای چه ځینې کسان وایی: «دالیزابت ددو ري انګلیسی دا نګلیسی ژبې په تاریخ کښې بهترینه انګلیسی ده.» یاداچه:

«دغور یانو ددور ې پښتو ترټو لونه ښه پښتوده.» ځکه ژبه خپله دژبې په حیث په یوه دوره کښې تر بلې څخه څه برتری نه لری. یعنې دغسې چه دالیزابت او غوریانو ددورې خلك یو د بل په خبره او مطلب سره پوهیدل او یو د بل سره یې د خپلې ژبې په واسطه همکاری لرله دغه ډول د ننني انګلیسی او پښتو ویونکی هم هغو مره یو د بل په مطلب سره پوهیږی او دا باید هیڅکله هم سړی و نه وایی چه هغه غزونه چه دالیزابت یاغوریانو د دورې خلکو له خپلوخولو څخه را ایستل او هغه معنا وې چه دوی ور څخه اخیستې هغه د ننني وغزونو اومعانی وو څخه بهتر دي.

په همدې ترتیب ځینې کسان بیا همدا د ښه والی او بدوالی یا لوړو الی او کښته والی خبره ددوو بیلو بیلو ژبو په منځ کښې کوی او دا سوال ورته پیدا کیږی چه:

«آیا دا درسته ده چه دې موږ دفرانسوی ژبې په څیر یوه ژبه هم چه د یوه عالی ثقافت او تمدن عر ا ده ـ د ه عیناً دا سې و ګڼو لکه د مرکزی افریقا ځینې غیر مشهو ري ژبې چه هیڅ کوم ادبی ـ ثقافتی یا جمالیاتی ارزښتونه او یا حتی کوم لیك دو د هم لا نه لری.»

له دې پو ښتنې څخه او چته ښکاری چه پوښتنه والا هم دهسې ډیرو نورو خلکو په څیر ژبه لیك او ادب سره ګډوی او دلیك او ادب له مخې ژبه هم ښه یا بده بولی. حال دا چه دا خبره چه پلانی ژبه لیك لری او که یه؟ دژبې په مزیت کښې هیڅ فرق نه شی راوستلی ځکه ژبه چه لیك ولری او که یه هغه ژبه دغسې چه که سړی «عکس» ولری او که یه سړی هغه سړی دی.

په همدې ترتیب د یو ې ژبې په مزیت کښې د ژبې په حیث دا خبره هم څه اهمیت نه لری چه په دغې ژبې پورې مربوط ادبیات شته او که یه یا دا چه په دغې ژبې پورې مربوط ادبیات اوچت دی او که څنګه.

ځکه څرنګه چه مو د مخه وویل دژبې او هنر نسبت د مرمر او مجسمې نسبت دی او دا خبره د مرمر په مزیت کښې د مرمر په حیث هیڅ بدلون هم نه راولی چه وشه کومه ښکلې مجسمه پور څخه جوړه شوې ده او که یه.

لنډه دا چه «کله چه موږ د یوې ژبې پر ادبي یا ثقافتي ـ ارزښت ـ غږیږو خبرې مو هیڅکله هم خپله د ژبې په باره کښې نه وي. بلکه د ځینو نورو غیرژبنیو شیانو د اجتماعي مقام او اعتبار په باره کښې وي لکه ثقافت او یا ادب . اما اصله خبره خو دا ده چه نه ادب پر ژبه څه تفوق لري او نه له علمي نظره له دې سره څه ارتباط لري چه دې زموږ تقرب ژبې ته تعیین کړي ....

د برنارډ ډ یوټو خبره ـ داخوشي چتیات دي چه دې د یوې ژبې شناخت او د هغې په باره کښې قضاوت فقط ددغې ژبې د ادبیاتو له مخې وي ... یا دا چه ادب د ژبې تله ده او یا په پای کښې دا چه ژبه د ادب تابع ده ـ درسته ده چه ادب خپله په خپل ذات کښې ډېر زیات ارزښت لري اما ادب ژوندنه دی . ژبه او ادب دواړه د ژوند زیږنده دي. نه دا چه ژبه د ژوند او ادب.»

البته دالا سړی ویلای شي چه بې ژبې ادب منځ ته نه شي راتلای . لکه څرنګه چه بیزو او سپی ژبه نلري نو ادب هم نه لري . مګر له بده مرغه کله کله موږ نه یوازې دا کوو چه ژبه د ادب په ترازو تلو بلکه خپله ژبه هم د کوم ادبي هنر مند اختر اع ګڼو او وایو چه:

«خوشحال خان دپښتو ژبې پلار دی .»

یا دا چه ،

«شکسپیر او ملټن دا نګلیسي ژبې معماران دي.»

اما نوی ژب پوهنه دا خبره په هره جامه چه کیږدي، د خپلو علمي څېړنو له مخې په شدت سره تردید وي او وایي چه :

دیوې ژبې معماران ادبي هنر مندان نه دي. بلکه دهرې ژبې جوړوونکي فقط وګړي او یا ولس دي چه ژبه د خپلو ورځنیو مقاصدو د سرته رسولو د پاره استعمالوي.»

نوټ: په دې مضمون کښې برسیره پر هغو نورو اثارو چه د کابل مجلې په تیرو ګڼو کښې د مأخذ په حیث ښو دل شوي دي له لا ندې اثر څخه هم استفاده شوې ده .

Language by Sapir . New York . 1949 . P221

عبدالحی حبیبی

د پښتو ژوندی کلمات په پخوانۍ فارسی کښې

یو څو ورځې د مخه کوم فرنګی پوهاند کابل ته راغلی و، په راډیو کښې می واورېده چه ده د پوهنتون په یوه فاکولته کښې زده کوونکو ته وینا کوله او ویل ئې:

« د پښتو په کومك به د اوستا او پخوانو ژبو ډېر مشکلات حل شی... »

دا خبره ډېره پخه ده، او باید اوس د اومنو چه ختیځ پوهنې او د استشراق فن به هغه وخت بشپړ شی، که د ژبو پوهان او فیلالوجستان د هندو آرین ژبو په پلټنه او څېړنه کښې پښتو هم زده کړی، او د دې ژبې د معلوماتو په سیوری کې خپل مطالعات پوره کاندی.

په حقیقت کښې پښتو د هندو ایرانی ژبو تر منځ یوه منځنۍ کړی ده، او که څوك سنسکریت او نور هندی پراکریت او اوستا او زړه پارسو او سغدی او ختنی ژبې ټولې زده کړی، خو له پښتو څخه نا خبره وی، قطعاً د هغه معلومات نه بشپړ کېږی، او نشی کولای چه د دغو پخوانو ژبو روابط او د نښتون وسائل ومومی.

پښتو د دغو ژبو منځنۍ حلقه ده، او که دې ژبې ته د پخوانو کلماتو او الفاظو یو موزیم و وایو بې ځایه به نه وی. ځکه چه پښتو ډېر پخوانی آریائی اصیل او ستېز کلمات ساتلی دی، او اوس چه موږ ګورو، ډېر پخوانی الفاظ تر اوسه په دې ژبې موزیم کې محفوظ پراته دی.

نو د علمی تحقیق او ژبنی تلاش لپاره حتماً د پښتو مطالعه باید وشی، چه د دې په کومك ډېر مشکلات حل کیږی، او ډېری ورکې میندلی کیږی.

دلته به زه د دری فارسی ځینی کلمات د پښتو په او سنیو اشکالو کې دروښیم.

کت

دا کلمه په فارسی دری او قدیم ادب کې موجوده وه، او په اوسنۍ ژوندۍ پښتو کې هم کټ شته یعنی تخت او چارپائی. د پښتنو په دېرو او حجرو کې ضرور کټ وی، او خلق پری کښېنی.

د دری فارسی یو ډېر پخوانی شاعر بوشکور

بلخی (د ۳۰۰ ه حدود) دا کلمه په یوه بیت کښې داسی راوړی:

زوزارمزدست شاها شاد زی!
بر کت شاهی نشین و باده خور

فرخی سیستانی د سلطان محمود په مدح کښې وائی:

خلافت جدا کرد جیپالیان را
ز کتهای زرین و شاهانه زیور

له دغو دواړو سند و څخه ښکاری، چه کټ پخوا د شاهانو تخت ته هم ویل کیدی. اسدی طوسی دغه کلمه له افسر سره یوځای کړې ده لکه چه وائی:

که بر خون برانم کت و افسرت
برم زی سر اندیب بی تن سرت

خو داسې ښکاری چه و ر و سته د کټ پر ځای د تخت کلمه و در پده، او کټ په غرو او مېرو کی پښتو ته پاته شو. چه تر او سه هم په هره دېره او حجره کښې پروت وی، او خلق پر کښېنی.

پیل

یو رخت چه ما دا کلمه د کتاب د سریز او دیباچې پر ځای استعمال کړه، ملګروزه پسې واخستم، چه دا پیل له انګریزی فیر څخه غلاشوی دی. خوزما استناد د کندهاریانو عمومی محاوره وه او تر اوسه داوایم چې پیل اصیله پښتو کلمه ده. ځکه له دغې ریښې څخه پیلات او پیلامه هم سته تاسی و ګو ری دا کلمه د هغه باخی بوشکور په آفرین نامه کښې داسې راغلې ده:

مراین داستان کش بگفت ازفیال
ا بر سیصد و سی و سه بو د سال

دافیال هغه دپښتو پیل دی او د آغاز او ابتدا معنی لری.

هاژ

ددغه بوشکو ر په یوه بل شعر کښې هاژ راغلی دی وائی:

دیو بگرفته مر ترا بفسوس
توخوری برزیان مال افسوس
همه دعوی کنی وخایی ژاژ
درهمه کارها حقیری وهاژ

دبرهان قاطع لیکوال اوهم اسدی دلغت فرس قدیم ژب پوهاند ددغې کلمې معنی متحیر او فروماندہ او خاموش او درماندہ لیکی چې هاژو او هاژه او هاژیدن هم له دغې ریښې څخه راوړی (لغت فرس ص ۱۷٦ برهان قاطع ج ٤ ص ۲۳۰۷)

دا کلمه په ښکاره دپښتو «هېښ» ده چې کټ مټ هغه معنی لری، او هېښېدل هم هغه هاژیدن دی.

کند هار یان وائی : پلا نی هېښ پېښ ولاړ دی یائې ستر ګې هېښې نیولی دی .

شیخ متی (کلات بابا) ویلی وه :

دلته لوی غر ونه زرغونېږ ی
ستر ګې لیدوته ئې هېښېږی

نو هغه هاڅ اوس د هېښ په شکل کښې موجود دی چې (ژپه‌ښ) اوښتی ده .

گرم

دا کلمه اوس په پښتو گروم ده ، یعنی اندوه‌اوغم ،، رود کی دا کلمه د (۳۰۰ هـ حدود) داسې استعما لوی :

هر که‌سر ازپند شهریار بپیچید
پای‌طرب‌ربدام گرم درافگند

فردوسی ویلی وه :

زچنگال یوزان همه دشت‌غرم
دریده‌برودل، پرازداغ و گرم

شمس المعالی قا بو س د وشمگیر د یلمی زوی ویلی دی :

شش‌چیز دیگر نگروطنشان‌دل‌من
عشق‌وغم‌ودرد و گرم‌وتیمار وحزن

غرنگ

په‌پښتو اوس غړ انگه داوښ زغ یاهغه ته ورته ناره ده، غړانگی وهل‌په‌لوړ او بدآواز فریاد کول‌دی. خسر وانی دفارسی قدیم‌شاعر (د ۳۵۰ هـ حدود) وائی :

رخت دید نتوانم از آب چشم
سخن گفت نتوانم‌ازس غرنك

په لغت فرس کښې دمنجیك ترمذی دا بیت هم‌راغلی‌دیء :

بخروش اندرش گرفته غریو
بگلو اندرش بما نده غرنگ

سوك

په‌پښتوسو که‌یاڅو که ده،چې‌د غره څو که یادچا کو څو که وایو،په‌دری فارسی کښې‌د شاکری‌بخاری (د ۳۰۰ هـ حدود) په‌یو بیت کښې دا کلمه راغلی ده چې دکتر صفا د ا یر ا ن دادبیاتودتاریخ مؤلف (ج‌اص۴۰۱)ئی معنی‌په تقر یب اوتخمین (خار خوشهٔ گندم وجو) لیکلی ده، خو دامعنی عجبه غوندې ښکاری ځکه چې د غنمو وزی خواصلا اغزی نه‌لری اما لږ څه زیږوی ،نودا کلمه‌دغه‌څو که‌ده ، شاکری وائی :

اندام دشمنان تواز تیرنا وکی
مانند سوك خوشهٔ جو باد آژده

چې‌دلته‌هم‌دوزی څو که‌مقصد ده.

خه

داد تحسین کله اوس هم په پښتو کښې وایو (خه = ښه) مستعمله کلمه ده . شهید بلخی درودکی په مدح کښې وایی :

شاعر انرا خه و احسنت مدیح
رودکی راخه وا حسنت هجیست

کباره

دا کلمه اوس په کندهار کښې کواره ده ، چې په او سنی فارسی ئې سبد بولی، دغه دلښتو کواري چې انګوراو انار پکښې راوړی تراوسه هم سته، په پارسی ادب کښې دا کلمه کباره ده. ناصر خسرو علوی قبادیانی وائی :

ترا این تن یکی خانه سپنجست
مزور بل مغربل چون کباره

کواره خوسوری وی نو ځکه مزور اومغربل بلله شوې ده .

لیکو نکی ق خادم ـ څېړندوی

پښتو تصفیه غواړی

ـ۳ـ

پښتو یوه لویه او پراخه ژبنی ساحه او ګړنی ټولنه لري چه له هرات او بدخشانه څخه تر کراچی او کاغانه ویره پرته ده.

د پښتو ټولنې وظیفه ـ او دنن ورځې وسایل چه راډیو ـ جرائد مجلې او دخلکو یو تر بله په اسانه تماس اولیدل کتل دی ـ د اتقاضا کوي چه اوس سړې پښتو ـ په خپله ټوله لویه ساحه کښې تر ملاحظې لاندې ونیسي ـ اولکه زمونږ پخو انو چه لومړنی تیزه ایښې ده ـ دلیك املاء ـ انشاء او ادبی مطالې څخه دیوې داسې پښتو مانې ودروی چه د ټولو پښتنو وی ـ او هر چاته ئې لیکل لوستل ـ فهم اوزد کړه اسانه وي. په تیرو څلو پښتو کالو کښې چه ماد پښتو دلیکلو او ښوو لو کار کاوه ـ له ښه مرغه د پښتو د ګړنی ټولنې په اکثرو سیمو لکه هرات کندهار ـ کتغن ـ بلخ ـ کابل ـ پکتیا ـ ننګرهار پیښور ـ کوهاټ ـ مردان او داسې نورو ګرځیدلی یم ـ او د پښتنو د ټولو قومونو سره مې خبرې کړی او د پښتو ټول هغه آثار چه زما لاس ته راغلی دی اوستی مې دي ـ او د غه عشق او مینه ما ته له کوچینوالی څخه د مور او پلار له پلوه نیکونو ځنې چه د پښتو شاعران ـ لیکوال او مصنفان پکښې تیر شوي دي اودوه ـ دوه نیم سوه کاله سابقه لري ـ پمیراث راپاتې ده ـ نو په د غوملا حظو د پښتنو پوهانو څخه د غومره هیله من یم چه زما خبرې د پښتو په باب چه په اخلاص بنا دي ـ د غوروړو و بولی نور تود هر چا خپله خوښه د غه دې زه اوس خپل پیشنهادونه وړاندې کوم

(۱) ـ کښې: دا یوه کلمه ده چه په پښتو کښې ډیره زیاته اوړې ـ را اوړې ـ او چه څومره زیاته استعمالیږي ـ هما غومره یې په لیك او وینا کښې اختلاف هم ډیر دی دغه کلمه په یوازی صورت سره یوه ظرفی کلمه ده لکه په عربی کښې (فی) په پارسو کښې (در) او په انګریزی کښې «IN» ـ خو دا کلمه په پښتو کښې یو ځانته او مخصوص استعمال لری چه عوض ئی په نورو ژبو کښې نشته په پښتو کښې د دې کلمې خصوصیت دادې چه د نورو اسماؤ او افعالو سره

دسروند (Prefix) په ډول یو ځای کیږ ي او خورا ډیر ي نورې کلمې رغوي- یادپښتو په اصطلاح زیږنده کوې اوډیر بچې زیږوی- لکه : کښینا ستل - کښینبول - کښیباسل - کښیکاږل- کښیمنډل - کښیوتل- کښې ایستل کښینول -اوداسې نور-چه داهریومصدردی- او بلها ډیر فعلو نه ترې خوړیږې.

په دغوټولو کښې د(کښې) کلمه موجوده ده. نواوس سړی فکر کو لی شی چه دا کلمه په پښتو کښې څومره استعمال-چلند -اهمیت اومقام لری . مګر که اختلافا تو ته راشو - نو دوینا اولیك ا ختلافات ئې دادې:

(اول) دوینا اختلافو نه: د کندهارپه ساحه کښې ئې په بسیط او یوازې حالت کښې په (ك - ې سره - کی) وائی. مګرپه مرکباتو کښې ئې په (ك - ښ - ې سر ه کښې) تلفظ کوی . - په کابل ننګر هاراو پیښور کښې دا کلمه په بسیط او مر کب د و اړو حا لو نو کښې د (کې) په صو ر ت په (ك -ې) ویل کیږ ی یعنی (ښ) ور څخه غور ځوی .

مګردوزبرستان او ختکو په سیمه کښې دغه کلمه په یوازې او یو ځایې دواړو حا لو نو کښې « کښې : په ك - ښ - ې سره » ویل کیږی. اوپه خپل اصلی حال ژوندی پاتې ده.

« دوهم » دلیکلوپه حال کښې : په لیك کښې دا کلمه « کی- کې - کښ - کښې په یوازې صورت او « کښیباستل او کښیباستل» مثلاً په مر کب صورت تر اوسه هم لیکل کیږی. ځینی وایی چه دا کلمه دې په بسیط حال کښې « ك ی سره کی » و کښل شی او په مر کب حال کښې دې په (ك - ښ - ی) لکه کښینا ستل ولیکل شی .پخوانو اوزمونږ اسلا فو دا کـلمه « کښی » لیکله . خو د خوشحال خان په وخت کښ « کښی » لیکل شوې ده اسلافوچه دا کلمه « کښ ؛ ك ښ » باندې لیکله - دا هغه وخت وچه مې - دې - ئې -ئې هم په «م - د -ی» لیکل .

یعنی په لیك کښې د حر کاتو پر ځا ی دعلت توری نه وو استخدام شوی- اوچه کوم وخت دا کاروشو- نو بیا په اکثرو هغو کلمو کښې چه دعر بی په تقلید پکښې په اعجامو « ز ور - ز یر - پیښ » ا کتفا ء کید له - ترممکن حده په لیکلو کښې توری کښیښودل شو ل. لکه(مې - دې - ئی - کښی- کوم ګومان - کوچنی - پوښتنه - نشته -شته ، راشه او داسې نور . . . .)

نواوس دپشتو پوهانو عقل څه وا ئې د دې

کلمې دا اختلاف دې په لیك کښې » تصفیه اوله منځه رایستل شی که یه؟

څنګه چه تول یا زیات عقلونه لارښونه کوی زمونږ هماغه لیك دود خوښ دی . ځکه چه موږ سمه اولنډه ـ مګر اتفاقی لاره لټوو ـ اووربانديې تلل غوارو ـ هو ـ دومره به عرض وکرم :

پښتو تولنی چه دیر په خوا کو مه فیصله کړې ده هغه داده چه دا کلمه دې په خپل پوره او مطرد صورت ولیکل شی ـ نه په مخفف او بیلو بیلو صورتونو ـ یعنی په مرکب او بسیط دواړو حالونه کښې دې ورسره « ښ ـ ې » موجوده وی لکه په لاندې جملو کښې وګورئ دا لیك :

(۱)ـ اسلم داڅك په دام کښې کښیوتی دی .

(۲)ـ په لنده کوټه کښې دونه ډیر کښینا ستل تاوان لری .

(۳)ـ خپل کتاب مې په الماری کښې کښیښود

(٤) چه کښې مې ښود ـ نو پرې مې ښود .

(۲) ـ هکله ـ حقله : د وه عجیبې مرکبې وراشې دی ـ سړی نه پوهیږی چه څنګه جوړې شوې ـ چا جوړی کړې ـ او څنګه دومره ژر خبرې او عامې شوې ؟ لږې ورځې مخکښې دلته د مرکز په پښتو جرائد و کښې د (حقله) عبارت پیدا شو څو چه مونږ ځان خوځاوه ـ حقله په هکله بدل شو . او داسې ژرې هر پلو نیلې و ځغلو لې چه حیرت دی . او س چه سړی د کندهار ـ ننګرهار ـ بکتیا او نورو سیمو پښتو اخبارونه ـ مجلې اثار او کتابونه ګوری ټول له « هلکه او حلقه » ځنې ډك دې . هغه بله ورځ مې د مسکو در اډیو پښتو سرویس اور ید ـ دغه شی هلته هم رسیدلی دی . ځینی خلك به ووایی خیر دی ـ چه دغه وراشه پیدا او عامه شوه څه فرق کوی ـ مګر دلته پام کول په کار دی . « خیر دی ـ څه فرق کوی » د ټولو خرابیو بنسټ دی . فرق څنګه نه کوی ـ مونږ نه غوړو چه له درنې او ښاغلې پښتو څخه مرکب معجون، د مشهورو اغلاطو ګدام ـ او ار دویا پنجایی ژبې غوندی څه شی جوړ کړو . د امیر کروړ رحمته الله علیه له وخته د هوتکو ـ ابد الیانو ـ پښتو مرکې ان تر پښتو ټولنې پورې ټول پښتانه مشران همداوایی چه پښتو پخپله یوه قوی پوره مکمله درنه او با شهامته ژبه ده ـ پام کوئ چه ګډوله ـ کړ کیچو ـ او اروړه ئی نه کړئ . اوسنی او معاصر مشران او پښتو پوهان لکه ښاغلی محمد ګل مومند ـ پاچاخان عبدالغفار خان ښاغلی ننګیالی مشر عبدالصمد (او دل سمد) اڅکزی ـ ځوانیمرګ کریم ـ او داسې دنو رو

ښکته پورته ټولولو یو پښتنو همدا نظریه ده چه د پښتو حریت ـ سنداجت او شهامت وژغوری ء . د پښتو د مرکې رئیس مرحوم مولانا عبدالواسع پورې ـ ناپوهوو ګړوډیرې خبرې و کړې ـ او په پروپاګند ئې ورپسې ځمکه ډکه ګړه چه ده ولې (اسمان ته ـ پاس پاس) ویلی وو ـ مګر دهغه سره همدغه نظریه وه چه ټول پښتانه پړې متفق دی. په محمد ګل خان مومند پسی و کړو اسمان څیری نه کړ ـ او همدا اوس ئې مونږ د (تعصب) په تور نه یو نیولی ـ مګر زه په ډیرې عاجزی دغو مره وایم چه که مونږ د خپل وطن ـ ژبې، ملت او خپل کلچر سره مینه ـ عشق او علاقه لرو ـ نو خلکو ته پکښې څه ضرر دی؟ که عشق او محبت تعصب وی ـ او هغه هم د مقدساتو سره ـ نو ضرر او تاوان ئې لومړی پخپله مونږ ته راجع دی : ځکه چه د عشق او مینې په لار کښې به اپثار کوو ـ او او سرونه یه ور کوو. ـ زندګی د هر کس او هر ملت په نزد بیله جلوه لری او ځانته فلسفه . خو زمونږ د حیات فلسفه هماغه ده چه (رحمان بابا) په دې بیت کښې ځای کړې ده :

« داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله ؤ مخلو قاتو پلار دی دا».

نو پښتو زمونږ مور ـ زمونږ ژوند او زمونږ ناموس دی . مونږ نشو ځغملای چه پښتو حقیره ـ ذلیله ـ د هر چا د لاس آ له ـ او د نورو ژبو د تأثیر لاندې وګورو . البته پښتو کره کول ـ سره کول ـ مترقی کول ـ علمی کول ـ ادبی کول بیلې لارې لری چه مونږ لګیا یو را سپړو ئې لاردانه ده چه (هکله) غوندې شیان پکښې ورګډشی. پښتو ژبه پخپله خپل ټون ـ خپل آهنګ خپل ساختمان او اصول لری. هر (لفظ) چه په دغه سانچه کښې را نشی تریخ (لوز) ترې جوړشی او پښتون ئې له خولې تو ـ کوی . د سټیشن نه ټیسن ـ د ټکټ نه ټکس ـ دا بدست نه او د س ـ د نماز شام ـ نه ماښام د وقت نه وخت ـ د بیعی نه بیه ـ د طمعې نه تمه ـ د سحر نه سهار ـ ولې جوړشوی ـ او چا جوړ کړی دی؟ هیچا نه دی جوړ کړې پخپله پښتو جوړ کړی دی.

هر کله چه دې ژبه کښې دومره قوت دی نو ځکه د پښتو لوی پوهان وایی چه (ص ـ ح ـ ق) په پښتو کښې نشته او چه نشته نو ولې د پښتنو له ژبنی فطرته مخالف غږونه په دوی بار او انبار کړو ـ دا خبره بې له منلو هیڅ ځواب هم نه لری نو دغه وجه ده چه مونږ په پښتو کښې (حقله) نه منو. او چه (حقله) په پښتو کښې نه ځائیږی ـ نو (هکله) څه شی دی؟ البته حق حق دی . او هر کله چه حق ته مونږ په درناوی قائل یو ـ نو څو پورې چه د پښتو خپل کوم لغت دغه ځای ډک نه کړی ـ

نود (حق نه هك) نه جوړوو او په حق لوبې نه کوو. او چه (هك) نه وی ـ (هکله) به څنګه جائزه واخلی . . .

دا خو د موضوع عمومیات وو. اوس غواړو چه خصوصی څیړ نه و کړو : حق یوه کلمه ده چه دعربی د نورو ډیرو کلمو سره دپښتو سیمې ته راغلې ده . حق ـ حقیقت ـ حقائق او حقوق په علمی بڼه په پاړ سو او بیا په پښتو کښې د خیلې شوې دی حق وائی مالی اقتصادی اخلاقی او عدلی ملکیت او (پور) ته چه خلك ئی فطرتاً یو پر بل لری . حق د باطل په مقابل کښې هم استعما لیږی لکه (جاءالحق وزهق الباطل.)پښتانه وائی:

«دا خبره حقه ده . آزادی د هر انسان حق دی.» دپښتنو جرګې چه پر یکړې کوی ـ نو وائی :

«دا دا څك او دا د بارك حق دی . یودې پر بل نه بلوسی. که نه نو ـ ناغه کیږ ی به .» ددېنه وروسته دا محا ورې پیداشوی دی (۱) د کروړ په حق کښې څه وائی څنګه سړی دی؟ (۲) ـ د رحمان په حق کښې دې څه اوریدلی یالوستلی دی (۳) دپلانی موضوع په حق کښې دې نظریه څه ده؟ ـ وروسته بیاد (حق) د کلمې سره (له) کلمه چه په پښتو کښې کله کله د (ته) پر ځای هم راځی یو ځای شوه او (حق) (حقله) شو. ورپسې ډیر ژر ځینی له پښتو بیخبره خلك په دې فکر کښې ولویدل چه (ح اوق) خو په پښتو کښې نشته او پښتانه ئی اکثرا ابدالوی یاحذفوی نو فوراً ئې (حقله په هکله) بدل کړ. مګر تعجب دې خبرې ته دی چه د پښتو دګړنی ټولنې په دې دو مره پراخه سیمه کښې چه له شاعرانو ـ لیکوالو او پوهانو ډکه ده ـ هیچا غږونه کړ . یوازې ښاغلی مو مند د ځانه سره غلی غلی وګورید ـ خپل لړمون ئی وخوړ خوڅه یې له لاسه ونشول . وګورې سم کارونه دغسی ورو ورو خرابیږی.

په اولودرې جملو کښې د (حق) استعمال بیځایه و. هغه وخت چه دغلته د حق کلمه بیځایه ته وه ننه ایستل شوې نو د پښتو سو چه وراشه داسې وه: (۱) په کروړ کښې څه وائې څنګه سړی دی (۲) د رحمان په باب دې څه اوریدلی یا لوستلی دی (۳) په پلانی موضوع کښې دې نظریه څه ده اوداسې نور . بیا د حق نه حقله جوړول بله غلطی ده.

ځکه چه (له) د (ته) پر ځای خورا ځی لکه چه وائی :« ماله رامبیل له باغه را وړه»

یا لکه داچه :«د باغ هلکا! ماله یوځل.....
له باغه راوړه زیړ ګلو:ه- د باغ! »مګر دا
د شاعر کار دی چه هغه له خپلې قریحې
پوښتنه وکړی چه دلته (له) خوند لري- او
که (ته).

په دې کښې ګوتې وهل نه ځائیږی .خو
په عامو محاورو کښې د (ته) پر ځای (له)
راوړل کثرت نه لری - نو ځکه که څوك
ووایی چه فصاحت هم نه لری نو ډیره بده
به ئې نه وی کړی.لکه چه وائی:

ماته اوبه را کړه. هلك مکتب ته بوځه
پیښور ته کله ځې؟ یالکه دلته-هلته- هغلته
هوغلته- هیسته- او داسې نورو کلمو سره
هم (ته) یو ځای شوې ده .

هو- ښاغلی کوثر غور یا خپل په خیلو
فلا لوجی ځیرنو کښې لیکلی دی چه (پیاله)
پښتو کلمه ده .

دی وایی ځکه چه اصل ئی (پیوله) ده
په پیښور کښې اوس هم شودوته (پی)وایی. مګر
شینواری(پی) مستوته وایی. خو په هر صورت
شودې او مستې سره بیخی نژدې دی .
ننګرهاریان همدغه(پی)په داسې ځای کښې
وایی لکه (دا نځر پی - د سپلمی پی) او
دغواپیوته(شوده) وایی. نو دا خبره چه (پیاله)
دې په اصل کښې (پیوله) وی . یعنی هغه
لوښی چه(پیو) د پاره جوړ شوی دی ،دعقل
منلو وړ ده . پښتانه اوس هم کوچنی جام
او کنډول ته (پیاله)وایی. نو داسی استنتاج
کیدای شی چه(پیوله) لومړی لومړی کوم
کوچنی خاور ین لوښی ؤ چه پښتنو پکښې
(پی) اچولې- څښلی ئې یا بی مهره کولې
وروسته چه چینیانو په هماغه شکل- شباهت
او د هماغه غرض د پاره چینی لوښی جوړ
کړل- پښتنو ورته دستی(پیوله)ووېله. پیوله
پیاله کول د پښتنو کار نه دی . ځکه لوړ
الف د پښتو په بنیادی لهجه او وراشه کښې
نه ؤ،داشی وروسته پیدا شوی دی. په پخوانی
او لرغونې پښتو کښې د دغه لوړ الف (۱)
پر ځای- په واولونو کښې یو غږ موجود
وو چه هغه (۱) نه و - بلکه د مجهول واو
غوندې آواز یې درلود چه دلاتینی(O) ته ډیر
ورته او نژدې ؤ. لکه چه همدغه غږ دوزیرستان- تیرا
او ختهکو په لهجو کښې اوس هم ژوندی او پاته دی.

مدعا دومره وه چه (حقله) ترکیب هیڅ
ژبنی معقولیت نه لری. «داحمد په حقله شه وائی»
معنی دا شوه چه (د احمد په حق د پاره)
.....یا یې معنی دا شوه چه« داحمد په حق ته»
نو بیایې شه معنی....هیڅ!

تر ټولو مهمه خوا دا ده چه هر کله په دغسی مواردو کښې پښتو ژبه خپلې سوچه او سپیڅلی محاورې او اداګانې لری نو ضرورت څه اوړتیا څه ده چه پنجابی رنګه شیان په پښتو کښې را ننباسو .بنه چه حقله سم نه وی او غلط وی نو د (هکله) په باب څه و وایو البته ځینی ژبې داسی شته چه خپل بنیاد او اساسی موجودیت نه لری بلکه له اره په اخذ اقتباس تداخل او تحریف ولاړې دی- لکه اردو چه سنسکریت-هندی-انګلیسی-عربی- پارسی پښتو او پنجابی څخه مرکبه شوی ده . او ځانته هویت او شکل نه لری . نو اردو مجبوره ده چه د نورو ژبو کلمې ادل بدل کی - وائی روی، را وائې روی، او څه محاوره ور څخه راوباسی لکه د اردو (ګهور ګهور کر دیکهنا) محاوره د پښتو د کتل د مصدر د حال له فعل «ګورم» څخه جوړ شوبده.او داسی نور او نور .

راغلو د (باب) کلمې ته. ددې رنګ او بڼه د پښتو ده. او په پښتو کښې زیات رواج لری.

نو که د حقله او هکله پر ځای لکه چه استعمال شوی راغلې ده-په همدغه ځای پاتې کیږی او حقله او هکله هیسته کیږی -نو دا به د پښتو ژ غورنه -ساتنه او حمایت وی.

(نور بیا)

د عبدالخالق واسعی ترجمه:

د صحافت اهمیت

نن سبا پښتو ټولنه غواړی چه د صحافت دفن او ددې فن د تاریخ په شاو خوا کښې یو کتاب طبع او خپور کړی . دا کتاب د عربی متحد جمهوریت د ستر لیکونکی علی محمود همهانی تالیف دی چه له عربی څخه په پښتو ترجمه شوی دی . که څه هم د کتاب موضوع او مرکوزه بوطه ابحاث ډیر مهم او په عین اهمیت کښې خوندور او په زړه پوری هم دی خود کتاب مخنی وینا (مقدمه) چه د مؤلف په قلم ده دلو ستلو په وړوالی او د استفادې څخه په ډکوالی کښې تر اصل کتاب نه ده پاتې او د کابل مجلې دلوستو نکو د پاره ئې دیوې خوږی ټوټې په توګه په مجله کښې خپرول زما په خیال ناوړه نه وی .

سربیره پر دې دا هم ده چه کابل مجلې به تر اوسه په دې لړ کښې کومه تخصصی مقاله یا کومه مستنده ترجمه چه پر عصری او علمی تفصیلاتو دې بناء وی نه وی خپره کړی او زما حافظه په دې باب کښې ماته ډاډنه را کوی. نو د همدغو وجوهاتو له کبله اوبل دا چه د کتاب ترخپرونې وړاندې په ضمنی ډول موږ د خپلو مطالعینو موافقه او مشوره لاس ته راولو چه آیا د دې کتاب او د داسی یوې موضوع (صحافت) په شاو خوا کښې خپرونه د پښتو ژبې د علمی پانګې د ډیرښت په اړا ده څومره اهمیت لری

« واسعی »

یادونه :

موږ چه دغه مضمون ولوست دا راته څرګنده شوه چه دلته د صحافت لـه کلمې څخه مراد ژورنالیزم دی په داسې حال کښې چه زمونږ د محیط په اصطلاح صحافت له ژورنالیزم سره تو پیر لری . «اداره»

زما په خیال اوس هغه وخت تېرشوی دی چه یوه لیکونکی به د صحافت د اهمیت او قدر او عظمت د څرګندو لو د پاره دلایلو او اوزودو بیاناتو ته ځان محتاج باله او نن روځ دهغو خبرو زمانه نه ده .

د اوسنی عصری مدنیت ماشین داسې چټک او ګړندی چورلی چه له دا سې خبرو څخه یې د پخوانیوزړو زمانو بیکاره خبرې جوړې کړی دی . دا هیڅ عجبه نه ده چه صحافت په اوسنی عصر کښې یودا سی موقعیت اشغال کړی دی چه پرټوله نړی حاکمیت ولری اودژوند دهغوضروری لوازمو څخه وشمیرل شی چه دعصری او مهذب محیط هیڅ فردبه چاره نه ځنې لری . صحافت نن روځ دمدنیت اوتهذیب په لوازمو کښې داسې دی لکه خواړه اواو به چه ژوند ته ضروری دی. کوم ملت چه صحافت ته پخپلو حیاتی احتیاجاتو کښې دوهمه درجه ورکوی هغه لاتراوسه د روښانه او منور مدنیت لارنه ده موندلې .

دا خویو واقعی حقیقت وچه موږ ووایه مګر صحافت زموږ په اوسنی عصر کښې خورا مهم رولونه لوبوی چه دانسانیت په ژوندا و ترقی کښې لوی اهمیت اوخاص قیمت لری - یوازې صحافت دی چه که ئې خوښه شی انسانیت دجګړې ډګر و نو ته بیایی او که یی زړه و غواړی پر نړی دروغې اوارامی او امنیت جنډې پورته کوی . نوهر څه زور او قوت چه وی ټوله دصحافت په لاس کښې دی اوهغه قوت چه دصحافت له لارې څخه ممکن دی دملو حاکمې طبقې او نورې قوی سیطرې ئې نه لری - نو نوی عصری حضارت که صحافت په دولت کښې څلورمه سلطه ګڼلی اود تشریعی - قضائی - اوتنفیذی سلطاتو په شمیر کښې څلرمه مرتبه ورکوی پر صحافت ظلم کوی ولې چه دصحافت اغیزه اواقتدار په دغو درو سلطو کښې ترهرې یوې زیات اومهم دی .

صحافت دی چه هغه آراء اوتنقیدات چه په تشریح اوتنفیذ اوقضا پورې اړه لری پر مخ بیائی، صحافت دی چه دحکومت دهرحرکت مراقبت کوی - اوټول اجراآت اوتصرفات یې دبې غرضه اوسپیڅلی تنقیدپه تله تلی - نود خیر او ښیګڼې لارښیی او بلنه ورته کوی اود بد وغند نه کوی چه پکښې ونه نښلی. دا مرتبه صحافت دهغه وخته څخه وموندله چه غیر محدوده ازادی ورکړه شوه اودایوه داسې ازادی ده چه د حریت او خپلو اکی انتهائی حدود وته رسید لې ده «البته دقانون په چوکاټ کښې » .

ز ما به څو مره زړه غوښتی وی چه که زما ددې کتاب دلو ستو نکود لاسه کیدای، چه هغه حالت دوی هم را سره لیدلی وای کوم چه ما په ۱۹۳٦ ع کال په فرانسه کښې ولید. هغه دا وچه یو څو ورځې دځینو سیاسی عواملو په واسطه جرایدمعطل شوه نو فرانسویانو په لاروا و کوڅو او بازارونو کښې سړی ته خوراحیران او مړاوی په نظر ورتلل دا ځکه چه دجرید ومطالعه د دوی په عقیده دژوند دضروری احتیاجاتو څخه ده - نوچه مطالعه ورو نه رسیږی رنګونه یې داسې اوښتی وی او بڼې یې هسی الوتی وی لکه دنورو مللو چه د لوږې او نه خوړو په واسطه بڼې الوزی.

جرایدچه بیرته ایله سوه (کلمان فوتیل) د (پاری سوار) په اخبار کښې یوه مقاله د «جرایدد مللود وهمه غذاده» ترعنوان لاندې لیکلی او پکښې ویلی ئې وو :

ډوډی او خواړه که دبدن غذاده جرایدد عقل او فکر غذا ده او که د وطن دپاره ډوډی ارامی - حریت - لازمدی موږ کولای شو چه دې تعبیر ته تغییرورکړو او داسې ووایو چه : «زموږدپاره : ډوډی او جرایدپه کار دی دادوه خوبه وی نو که څه ضروریات پاتې وی په دغو دوو پسې به وروسته راځی» .

داټول حق او حقیقت دی - او هیڅ شك او شبهه پکښې نشته او دهیچا زړه ته دا نه ورګرزیده چه د صحافت سره به عصر او زمان دومره مرسته او مساعده وکړی او په دغه اندازه زه جاه او جلال او برم به ئې په برخه شی - یا به دعظمت دغه لوړ مقام او هسك سر ته وخیژی - او یو مستقل فن به ځنې جوړ شی، خپل مخصوص اصول او دساتیر به لری دنورو فنو نوغوندی به ئې درس او تحصیل کیږی او پر ټولنو به یې حاکمیت او سیطره پرته وی جوامع به ئې امرونه وړی او دحقوقو قدر او مراعات به یې داسی کیږی لکه دنوې ممتازې او فوق العاده سلطې چه د تاریخ لیکل یې ضروری وی او ماضی ئې د حاضر او پرون ئې دنن سره ارتباط ومومی.

هوا دد ې خبر و څخه د چا خیال ته یوه هم نه ورګرځیده مګر د صحافت خپل جلال او عظمت او دده خپل اهمیت مؤرخین دې ته باعث کړه چه دده په پیدایښت اولومړی نشأت کښې ئې څیړنه وکړی او تاریخ ورله ومومی او لیکنې پکښې وکړی او د قربانیو او فداکاریو څخه ئې وږغیږی .

غربیانو صحافت ته د جلا او مستقل فن په نظر کتلی او داسې ئې زوزلی

اوپاللی دی لکه یوفن چه څوك پالی- عالی در سو نه - او لوړ تعلیمات ئې ور له و ضع کړی دی - ماچه دخپل تحصیل په وخت په پاریس کښې ولیده خور اعمیق بحثونه اوژورې څیړنې ،مفصل تعلیمات د صحافت په فن او دصحافت دژوند دتطوراتو په شا و خوا کښې کیدل اوهرڅه چه دصحافت نهضت او پرمخ تللو عوامل وه ټوله په تعلیمي توګه په درس کښې شامل وه ډیرئې حیران کړم اوخورا مې دا کیفیت خوښ شو - اودارامعلومه شوه چه زموږ اود دوی صحافت خورا ډیر فرق سره لری اوتوپیر ئې دمځکی اوداسمان دی . . . . .پهدوی کښې دصحافت اساس پرقواعد اواصولوولاړدی اوپهموږ کښې فقط پر مواهبو او تقلید .

زه داروپا څخه راغلم اودې تهمې ټینګه اراده کړې وه چه ددې فن څخه چه مایوڅه لاس ته را وستلی وواودخپل ژوند یوه برخه مې دهغه په درس اوتخصص کښې تیره کړې وه یوشی خپلو وطنوالو ته راسره راوړم. نود همدغه جهته مې خپل دغه کتاب دصحافت په موضوع کښې را واخیست چه ګوندې هغه ځای چه دعربی ثقافت په ډګر کښې تراوسه خالی دی په ډك شی اوددې حرفې یووړ غوندی خدمت به و کړای شم. اود قلم تا ریخ ددې څخه راستون کړم چه دصحافت په تمجیداو ستاینه کښې پخپل وار برخه نه ده اخیستې . په دې باب کښې ماهغه مهم مسایل را غونډ کړی دی چه دصحافت په فن اودصحافت په تاریخ- دصحافت په مختلفو قوانینو پوری یې اړه درلوده- اوپداسې توګه مې بیان کړی دی چه هغه اختلاف اونوپیر چه هیوادو نه ئې په دغو شیانو کښې سره لری هم څنې څر ګندشی پهدا سې حال، کښې چه هیله لرم دا کتاب دې زماد صحافت دفن دتألیفاتو دهغې سلسلی څخه جوړ کړی وی کوم چه زه غواړم ددغو موضو عاتو څخه پههره موضوع کښې ګوښی تالیف را وباسم .

بیاهم د دې کتاب په لیکنه کښې ما پر هغو نفیسو بحثونو اوڅیړنو اعتماد کړی دی چه داروپا د کتابخانو څخه مې پهپاریس-ویانا- روما- اودواټیکان په ښار کښې لاس ته راغلل ددغو موضوعاتو څخه ځینی ځینی ماته د پاریس دصحافت پهښوونځی کښې پهداسې ډول لولول شوی وو اوڅوك مایخپله په هغه وخت کښې ضمناً حاصل کړی دی چه په اروپا او خپل هیواد کښې مې دصحافت کار کاوه- نواوس زه څښتن تعا لی ته شکر کا زم چه په دې

شلمه پیړۍ کښې هیڅ څوك د صحافت قدر اومرتبې ته په سپکه نشی کتلای او نه دهغې وظیفې دعظمته څخه سترګې پټولای شی چه دجریده لیکونکو پراوږه پرته ده یا هغه ویناڅوك و کړی لکه پخوانو چه به کوله: «صحافت هم دومره قیمت او اهمیت لری چه دهغه په باب دې یو اثر تألیف شی او کتاب دې پرو لیکل شی؟» هغه روځې ولاړې چه داډول ویناوې به کیدلې او اوس دهغو خبرو وخت نه دی. نن روځ حکومتونه صحافت ته التجأ ورو ړوی - او په هره لو یه او کوچنۍ اوغټه اووړه کښې دصحافت لمنې ته لاس ورا چوی تردې اندازې چه خوراغټ سیاسیون. اوسترمشران چه دحکومتونو واګې یې ترلاس دی د صحافت له لارې څخه دغو مقاماتو ته رسیدلی دی او دصحافی وګړو څخه بلل کیږی. اوهم په دې سره خوښی را حاصله شی چه داپه افتخار سره ووایم چه په مترقی نړۍ کښې دصحافی ملګرو څخه نن روځ څوك د کابینې مشران اوڅوك د احزابو په سر کښې و لاړ دی.

همدغسی په دې باب کښې په بشپړ اعتماد اوټینګه عقیده ویلای شم چه دهریوه فکری اودماغی زیار اوزحمت په مرسته چه په اوسنی عصر کښې زلمیان او پیغلانې مخ په وړاندی ځی فقط یوازې دهغه قومی اوملی مجد اوعظمت نتیجه ده چه موږ ټوله ئې دژوندا واحیاء په لار کښې ترخپلو سرونو اوځانونو تیریږو او دهغه نوی نهضت دږغ انعکاس دی چه په فضا کښې ئې ازانګه اچولې او دنړۍ ملل ددې دپاره نهضت ته ورپورې وهې چه هرترشا پاتې ملت دمترقی اوهسکوملوپه قطار کښې و دریږی او دمترقی اقوامو په صف کښې دځان دپاره ځای ومومی.

(پای)


ادبی

امین الله «امین»

خزانیه

دخزان باد چپاول کړه دبهار تازه گلونه
دښایستوښکلو گلانوئې سپېره کړله مخونه

د گلشن پر غولی باندې گلان ټول دی رژیدلی
د زلما په ښه ځوانی کښې دی د مرگ خواته بللی
د حسرت په چپېلاخه د خزان باد دی وهلی
ټوله بڼ سپېره ډگر دی هیڅ یو گل نه معلومیږی
د بلبل په سینه خارځی د زړه وینی یې څڅیږی

د بلبل سوی ناری سی چه د بڼ پر لوری ورشی
دزړه مراندی هله پرېشی چه پر گلوئې نظر شی
په چغار سی بیر ته درومی د بید یا خواتې گذر شې
زړه ئی چوی له ډېره غمه د ظالم خزان د لاسه
په فریاد په تاروسرشی د ناکام زمان د لاسه

و هر بڼ ته چه ر هی شی د گلو نو سیل نشته
آ د مینی بز م گا ه ته د مینو میل نشته
د سا قی په ډ ك جامو نو د ر ند ا نو پیل نشته
سا قی سو ړا سویلی کاڼی پرمیدان ولاړ حیران دی
د بېلتون څخه د یا رانو سرله غمه په گریوان دی

ښا یستې ښکلی پیغلا نې چه به تلې د بڼ پر لور ی
ذ مینو د ید د پا ر ه ډ لې ډ اې هې خوا د و ر ی
نن له غمه پر کا له د ی بز م گا و ې تشې تو ر ی
د و ی پد ې سره ژړیږی چه داڅه دغم ساعت د ی
چه و هر محفل ته ور شو پرهغه محفل قیا مت د ی

په محفل کښې د پی مخو نه سا قی نه پیما نې شته
نه هغه ښکلی محبو به پر بسا ط د میخا نې شته
نه آ بر م ښا یست د گلو پر طر ف د گلخا نې شته
هرهر گل ته چه کاته کړی رنگ یې ژړخزان وهلی
په کږ ه غا ړ ه و لا ړ دی خوار ترټلی ا سکېر لې

هر مین ته چه کا ته شی بنه ژ ړ ه سا ه یې خیژ ی
جا م د مینی نسکو ر شوی نا ا مید ځی و لا ړ یږ ی
د پستو سپینو لاسو څخه د ز لما می چپه کیږ ی
په یو ه عا لم غمونو کښې دی ډوب په ژړا ژا ړی
د قد ر ت څخه هغه د مینې بز م بیر ته غوا ړ ی

ژواك

کسی

د اچه د نازه دالالی کسی غلی د ستر ګو تر بڼو ګو ری
په پټه پټه ګوره خپله کوی زړه ته د ټوپ اجازه ور کړه کنه!

ورځی

بر یښی دې ورځو کښې مسکا غوندې که میاشت پـه غېږ کښې دسحر نغښتې
د خولې پـر خی یې زینت زیات کړ د تورا ور بل ترنری سیوری لاندی

بارخ

بارخو دې څله بیا سورکی ښکاری زړ و نو هیلې ورخطا ایسی.
تـه ننواتی د حیا قبلوې ؟ پـوهېږم ننګ دې پښتنې تـه ورته

خال

لرې کړه غوږی د پلو ګرانې! ترینه دې خال لږ څه پیکه ښکاری
شاهد د مینې څه ابداره ښه دی د سپکی مخ مشه و دې پلو ته

غاړه

هغه د لرې تماشه ستاوه ؟ چه دې همز و لولونګین تاړه
سپین مړو ندو نه دې ترغاړې چاپیر دزاڼو سیل و که کڼی (۱) دستورو

مړام کاتـه

د مړامو سترګو د کتو سره راته بی واکه اند یښنې پیدا
اکه نشه چه ورووروسر نه پاڅی هسې دغمه راته غم و ږ یږی

خولګی

په تمه تمه د ځوا ب شهی هیله وږمه د سبا و ون غوندې
ګرځی راګرځی وغوټی خولګی ته نه ! دخوږمن زړ ګی تسل یې هـوس

[۱]ـ کڼی = اصطلاحاً یوه سلسله ستو روته وا یی .

حفیظ الله امین

دنشنلیزم سیر او تحلیل

انسانی ټولنې دتاریخ په مختلفو دورو کښې مختلف حالات اختیار کړی دی چه هر اجتماعی سیستم دانسان دتکامل په تاریخ کښې دیو متعاقب متکامل سیستم په واسطه تعویض شوی دی. دټولنو په دغه ډول ارتقائی سیر کښې چه د ژوندانه ابتدائی سیستم د ځینی عواملو ذات البینی تضاد په واسطه سقوط کړ، فیوډالی سیستم منځ ته راغی. په منځنیو پیړیو کښې یو داسې اقتصادی سیستم شروع شو چه فیوډالی سیستم ئی له ماتی سره مخامخ کړ. د دغه ماتی دننه دملی دولتونو بنسټ کیښودل شو. د نسانس په دوره کښې ملی دولتونو قوت وموند. د فرانس او انګلستان ملی دولتونه په دغه دوره کښې د ډیر قوت خاوندان شول او امپریلیزم هم له دغه ځای څخه په ډیر قوت سره شروع شو.

په یورپ کښې د مذهبی اصلاحاتو په دوره کښې دغیر دینی مؤسساتو دقدرتونو ډیرې خاطرې ثبت شولې. د شاهانو سیاسی قدرتونو دومره قوت وموندچه اولسمې پیړی د مطلقیت د دورې نوم حاصل کړ. او شاهانو دملی مصارفو دتأمین له پاره دمذهبی مؤسساتو دشتو او ثروتونو په ضبطولو لاس پورې کړ. د دینی پیشوایانو نظامی اقتصادی-سیاسی- او دینی قدرتونه ضعیف شول او ملی دولتونو قوت وموند. په دغه دوره کښې دملی دولتونو داستحکام یوه مهمه نتیجه د نشنلزم د روحیې او دملی اختلافاتو وده وه. له اوږدو جګړو او ملی ژبو سره ملی دولتو د اقتصادی ګټو په ارزو مرستې کولی او حمایه کولې یې. خو چه احساس د دې کیفیت په واسطه منځ ته راغی چه هر ملیت له نورو ملیتونو څخه توپیر لری. تر څو چه دمعاصرې نړی نشنلستی جګړې دهغو په نتیجو کښې منځ ته راغلې.

کله چه لوترا نجیل په جرمنی ترجمه کړ که څه هم چه په دغه ترجمه کښې هیڅ کوم ملی هدف وجود نه درلود او اصلی هدف ئې د دین خپریدل و ـ خوورو سته ئې ډیر ملی تأثیر پیدا کړ ـ چه په همدغه تاثیر کښې دمحلی ژبې ډول ډیر بارزو. تر دغه وخته پورې هم دملی دولتو احساساتو لا ډیر قوت نه وموندلی او د روم امپراتوری مذهبی نفوذ لا په یورپ کښې ډیرو خو له لوتر څخه یوه پیړی وروسته ملی احساساتو داسې قوت وموندچه په ۱٦٤۸ کال کښې په

وستفلیا Westphalia کښې داسې فیصله وشوه چه هر ملت دې ځانته یو حاکم دولت تشکیل کړی او وروسته له دې به دروم دمذهبی امپراتور تر تأثیر لاندې نه وی.

په اتلسمه پیړۍ کښې دنشلستې دعلاقې په اساس دمستعمراتو په حاصلولو کښې دملتونو دتفوق رقابت ډیر قوت وموند. په دغه پیړۍ کښې انګلستان دډیرلوی استعماری قدرت په حیث منځ ته راغی. په ۱۷۸۹ع کال کښې د فرانسې دلوی انقلاب سره په لویدیځه نړۍ کښې نشنلزم په عملی- علمی او مستحکم ډول اساس وموند. که څه هم چه نشنلزم په ډیرو لرغونیو پیړیو کښې ریښې لری او په نولسمې پیړۍ کښې خپل معراج ته ورسید خو لومړنی ډیرلوی او پوخ ظهور ئې دفرانس لوی انقلاب وچه دنوی نهضت له پاره ئې یو لوی قدرت پیدا کړ. ددغه نشنلزم هسته د کامل قدرت مفکوره ده چه یو مستقل او قدرت خاوند دولت باید له خپلو سرحداتو څخه ور چینې هیڅ کوم قدرت ته اطاعت ونه لری. دلته ددولت طرز ک مطلقه شاهی، مشروطه شاهی او یا جمهوری وی دغه فکر ته تغییر نه ورکوی. بلکه په هرحال کښې دداسې سیاسی قدرت خاوندی چه خپل سرحدات- دخپل حکومت طرز او خپلې داخلی اوضاع په خپل قدرت او خپله خوښه تعیین کړی.

نشنلزم په اتلسمه پیړۍ کښې ډیر واروپائی هیوادو کښې ظاهر شو- چه دانسان په تاریخ کښې دارتقاء په اساس منځ ته راغی. دفرانس لوی انقلاب ئې په هیڅ ډول دهوی پیدا کیدو دلیل نه دی. دهولو تاریخی نهضتونو په څیر نشنلزم له ډیری پخوانه ډیرې عمیقې ریښې ځغلولې وې. هغو اوضاعو چه دنشنلزم ظهور ئې ممکن وګرځاوه په ډیرو پیړیو کښې یې ډیر پوخ وضعیت اختیار کړی و. چه دغه اوضاع سیاسی- اقتصادی اوفکری انکشافات وو چه خپلو دوله پارئې ډیره موده ونیوه او په مختلفو هیوادو کښې په مختلو موعدو سره پرمخ لاړل.

که څه هم چه دانشی کیدای چه دغه عوامل ددوی داهمیت په اساس به قطعی ډول درجه بندی شی او یا یو به بل پورې کاملاً منحصر وګڼل شی- خو سره له دې چه خپلو منځو کښې ذات البینی ارتباط لری او یو په بل باندې عمل او عکس العمل لری- بیا هم دسیاسی اوفکری اوضاعو تحولات تر ډیره حده پورې داقتصادی اوضاعو اوشرایطو محصول دی- اوله یوه نظر څخه ویل کیدای شی چه نور اوضاع په ډیر صراحت سره د اقتصادی شرایطو تحت الشعاع دی او اقتصادی اوضاع

تعقیبوی. برسیره پردې نشی کیدای چه ددوی ودې تأثیرات او نتایج دمعینې فاصلې کرښې په واسطه سره بیل شی.

په نونسمه پیړۍ کښې نشنلزم نسبتاً لبرال شکل درلود چه په ملیت کښې د ننه دننه له خارجی سلطونه دخلاصی په غرض تحریکات شروع شول. څو په دې ډول و کولای شی چه خپل مقدرات په خپله تعیین کړی. په دې ډول په نولسمه پیړې کښې ډیرانقلابو نه او ډیرې جګړې ددې له پاره واقع شولې چه ثقافتی یووالی په سیا سی یووالی باندې بدل کړی. د نشنلزم د اعمار په عمل کښې ډیر هیوادونه دملیت مفکورې ته متو سل شو ل په خلکو کښې دا احساس پیدا شو چه ځانته فرانسوی- روسی-افغان او داسې نورخطاب و کړی. هرملیت په مشترکو تاریخی سوابقو- په یوه مشترکه ژبه-مشترکو عاداتو- اوښایی مشترك دین-هنری او مؤ سسوی عاداتو اتکاء و کړه. دهرملیت مربوطو خلکو زیارو کیښ چه دخپل سیاسی دولت سرحدات دثقافتی ملیت ترحدودو پورې وسیع کړی. ددې مقصد له پاره زیار وایستل شو چه دهرملیت ولس ته له خپل هیواد سره دوفاداری او پرخپل ملیت باندې دافتخارروح پیدا کړی. په جرمنی او ایطالیا کښې نشنلزم دنولسمې پیړۍ لومړیو وختو کښې ډیر روڼ ثقافتی وضعیت درلود. هغه وخت نشنلزم په دغو خلکو کښې د یو ملی دولت په تشکیل کښې ډیر قوت نه درلود بلکه په ادبیاتو- نکلونو- په مورنی ژ بې او تا ریخ کښې څر ګند یده. د نوی اجتماعی وضعیت دقدرت له ودې سره- چه په هغه کښې دنوی ساینس په مرسته د طبقو اوفرقو په قدرت باندې دولسی سلطنت د افکارو تر شعا ع لاندې نوی نظر کیده- اود ولسونوله سیاسی اوثقافتی ویښیدلو سره دغې ثقافتی نشنلزم ډیرزر دملی دولت د تاءسیس دآرزو په لور مخ وا ړا و ه.

دانګلستان محافظه کارانو د اد مندبرك Edmund Burke (چه دنیکونواوپخوانیو پیړیو دټول تمدن- مذهب اواخلاف ذخیره ملی ژوند بولی) په مشری څرنګه چه له هر انقلابی عمل سره یې مخالفت درلود اوحتی چه دانقلابی مساوات له مفهوم څخه ئې انکار درلود- دداسې نشنلزم طرفداری ئې هم کوله چه ارستو کراتیك ډلې په کښې وې. ددوی مشرو طیت غوښتونکی چه د متوسطی طبقې له لبرالانومنورینواود کاریګرو له ډلې څخه عبارت وو په ارستو کراسی - مطلقیت- عنعنویت

اوډیرولویو سرمایه دارانوئې تجاوز کاوه-
سره له دی چه معتقد ووچه دټولنې ناروغتیاوې
دسیاسی لبرالزم په واسطه تداوی کیږی-خود
ثقافتی ملیتونو له پاره د سیاسی خود ارادیت
په ګټو کښې د نشنلزم په خواهم درېدل. کله
چه په بین المللی چارو کښې بحث کیږی دملی
دولتوموجودیت ډیراهمیت لری اوپه معاصرې
نړۍ کښې دنشنلزم ډیر قدرت معلو میږی
له یوه نظرڅخه دتیروپیړیومهمې ایډیالوجی
اولوی نهضتونه دهغوایډیالوجیواو نهضتونوپه
شمول چه بین المللی موقف لری لکه کپټلزم
انډسټیریلزم - سو شیلزم - کمو نیزم
اوحتی ادیان هم دنشنلزم پراساس بناشوی دی.
دنشنلزم وده په یوه عمومی سیاسی وجود کښې
دولس دداخلید لوعمل دی. نو نشلزم په واقعیت
کښې او یادیوایډ یال په څیر په یوې لویې او
مشخصې ځمکې باندې دیوه متمر کزحکومت
وجودلازمی ګڼی. او پخواله دې چه دیوه متمر کز
دولت مفکوره پیداشی دنشنلزم و جودنه تصور
کید. ه دنشنلزم دغه شکل دمطلقوشاهانو په واسطه
پیداشو چه دمعاصر نشنلزم پیشقدمان دی. دفرانس
انقلاب هم دغه ډول تمایل ته دوام ور کړ.
دنشنلزم په وده کښې ډیر ابتدایی او لرغونی
احساسات په کار واچول شول. داد انسان یو
طبیعی میلان دی چه دخپل دزېږ یدنې ځای او
د کوچنیوالی دخاپوړو ځای- دهغه ځای له اقلیم
غرونو- بیدیاوو-ونو- کاڼواوبوټوسره مینه لری.
(له طبیعی میلان څخه هغه میلان مقصددی چه
داجتما عی محیط په واسطه له ډیر پخو انی
وخت څخه چه تاریخ نه دی ثبت کړی پیداشوی
دی- نوموږ ته دطبیعی میلان په څېر ښکاری.)
سړی په ډ یر وضا حت سره خپلې ژ بې ته
ترجیح ور کوی ځکه چه په هغې ښه پوهیږی
اوله هغې سره تل ځان آشنااوخوشحاله وینی.
هغه د خپل ځای دودونو اوغذاته دبل ځای
ددودونو اوغذاپه نسبت ترجیح ور کوی. کله
چه له سفر څخه بیرته خپل ځای ته راو ګرځی
نویو ډول راحت حس کوی اوویاړی. دغه ډول
احساسات تراوسه وجود لری مګر دغه ډول
احساسات نشنلزم نه تشکیلوی دوی له ځینې
معینوحقایقو-ځمکې-ژبې اوداسې نوروشیانو
سره ار تباط لری چه په نشلزم کښې لیدل
کیږی - خو دوی ته کاملا انتقال ور کول
کیدای شی- له نو و او مختلفو مشو قاتو او
محر کاتو سره تغیر مو می او ډیر و سعت
ور کول کیدای شی داهمغسې طبیعی عناصردی
چه په نشنلزم کښې واقع دی. خو نشنلزم نه
یوه فطری اوطبیعی حادثه ده اونه دازلی او

طبیعی قوانینو محصول دی. نشنلزم دتاریخ په یوه معینه مرحله کښې داجتماعی - ذهنی اوپه تیره بیا داقتصادی عناصرو دانکشاف محصول دی. دمیلت ځینې احساساتو له معاصر نشنلزم څخه پخوا وجود درلود - چه دغه احساسات تل تغییر معروض دی. چه په ځینی وختو کښې کاملا له منځه تللی اوپه بل وخت لږ اویا ډیر لیدل شوی دی. دوی خپل اعمال اوهدفونه په دائمی توګه نه دی تعیین کړی.

له نشنلزم څخه پخوا ژبې ته په دې غرض لږ اهمیت ورکول کیده چه ژبه دیو داسې حقیقت په څیر تصور کید له چه په هغې پورې دیوې ډلې موقف تړلی و. په ډیرو ځایو کښې خارجی ژبې تر دې وروستیو وختو پورې درسمی ځایونو - پوهانو او لوړو طبقو تر منځ استعمالیږی. څرنګه چه وویل شول حتی انجیل ترجمه لومړیو وختو کښې کوم نشنلسټیک هدفونه نه درلودل بلکه مقصد ئې محض ددین خپریدل و. خو په وروستیو وختو کښې چه نشنلزم وده وکړه دانجیل ترجمې هم نشنلزم تأثیر درلود. ژبې په وروستیو وختو کښې دهټلر دفاشیزم دمحور حیثیت درلود او همدا اوس اوس دعربی نشنلزم دهستې حیثیت لری.

دځینو پوهانو مخصوصاً دهغو پوهانو له نظره چه دارستو دفلسفې تر تأثیر لاندې دی نشنلزم کیفیت په اساس دکهول اودکورنۍ له مینې سره سمه یوه طبعی وده نه ده - بلکه دانسان مینه دلوئد و نکود ایرو په شان ده چه له کورنۍ نه شروع کیږی کلی - قوم ملت اوپه پای کښې دانسانیت عالی ښه والی ته رسیږی. دکور او کهول مینه مشخص احساس دی. چه هره ورځ دهرچاله پاره میسر دی په داسې حال کښې چه نشنلزم اوپه یوې لومړۍ درجې سره انټرنیشنلزم یو ډیر غامض اومجرد احساس دی. نشنلزم یا دمیلیونو خلکو له ژوندانه اوارزوګانو سره چه هغوی مونږ نه پیژنو - له یوی داسې منطقې سره چه مونږ به ئې هیڅکله ونه وینو زموږ مینه اوپیژندنه دکیفیت په اساس دکور او کهول له مینې سره توپیر لری - دبشریت اوټولې نړۍ له مینې سره ډیر نژدیوالی لری.

دفرانس له لوی انقلاب راهیسې نشنلزم دفکر یو برجسته حالت اویو شعوری عمل دی دنشنلسټانو له نظره دانسان فکری ژوند له اجتماعی شعور څخه زیات دځانځانی دشعور تر تأثیر لاندی واقع دی. دواړه دفکر غامض

حالات دی چه په هغو کښې دتفاوت اوتقابل دځان اونورې نړۍ ـ زموږ دډلې اوزمونږ له ډلې څخه باندې خلکوپورې مربوط تجا رب مخی ته راځی . اجتماعی اوګروپی شعو رد کاملاً متفاوتو ګروپوپه اطرافو کښی تمرکز کولای شی چه ځینی له دغو ګروپوډیر دائمی خاصیت لری لکه کورنۍ ـ قوم، ډله ـ دینی فرقه اوداسې نور. په داسې حا ل کښې چه ځینی نورګروپونه لږ اوپاډیر تیریدو نکی ما هیت لری لکه دښونځی ملګری ـ دفټ با ل ټیم اوپاپه یوې بیړۍ کښې مسافران که څه هم چه دغه دائمیت متفاوت دی خوګرو پی شعور زیار کاږی چه دیوګروپ دننه دننه تجا نس مطابقت ، یوډول مشابه تلقی ، چه د یو مشترك عمل په لورلارښوونه وکړی، اوپه یوهدف باندې تمرکزاسانه وګرځوی ـ خلق کړی. دلته له اجتماعی تفکر اواجتماعی عمل څخه خبرې کیږی ـ مثلاً هغه اسلامی فکر او اسلا می عمل ـ ا فغا نی فکراوافغانی عمل و ی . اوښا یی چه په عین و خت کښې کلیوا لی فکراو کلیوالی عمل ـ ښاری فکراوښاری عمل هم مقصدوی . هرګروپ زیار کا ږی چه داسې عقید ې خلق کړی چه داجتما عی عنعنا توله سلطې سره سمون ولری ـ اوخپلې افادې دولس په افکارو کښې پیدا کړی.

ګروپی شعور هیڅکله استثنائی نه دی . انسان په عین وخت کښې دمختلفو ګروپوغړی وی. دغه ګروپونه د تمدن له تزاید سره سم تزاید مومی او ثابت ندی بلکه متحول حدود لری. ددغو ولسی اوځینی وخت متضادو ګروپی شعورونو ترمنځ چه اکثریی ډیر عا لی اوډیر مهم تصور شوی وی ـ اوهغوته د مربوط ګروپ غړی خاصه وفاداری لری ـ چه خپل هویت ددغه ګروپ له موجودیت سره مربوط ګڼی اوا کثراً نه یواځې دژوندانه ساحه په هغه کښې و ینی بلکه خپل موجودیت په هغه کښې وینی .

دغه دګټو د اشترا ك حس دفرد او ګروپ ترمنځ ترهغه وخته پورې دوام لری تر څو چه ځان په ګروپ کښې بالکل منحل تصور کړی دګروپ داعضاو ټوله روزنه دمشتر که تلقیاتو او مشتر کو اعمالوله پاره دیوې مشترکې فکری تیاری په لورسوق ور کړی شوی و ی. دتاریخ په مختلفو تمدنو کښې مختلف ګروپونه پیدا کیږی چه عالی وفاداری په هغو پوری ارتباطلری. دتاریخ پهمعاصرې دورې کښې چه دفرانس له انقلاب څخه شروع کیږی دا سې یوه خا صه وجودلری چه په دغه دوره کښې هرملت دانسان

څخه ډېرې عالي وفاغوښتنه کوي چه ټول خلك دغې مشترکې وفاته را بولي او د نړۍ اکثر تمدنونه د دغه عالي شعور تر نفوذ لاندې دي چه دغه عالي شعور ته نشنلزم وايي.

ملیتونه محض هغه وخت موجود یږي چه معین اهداف یو اجتماعي ګروپ محدود کړي. یو ملیت له دغو اوصافو څخه ډېر لږ لري او ډېر لږ ملتونه هغه ټول لري. ډېر عادي اوصاف ـ مشترك اجداد ـ مشترکه ژبه ـ ځمکه ـ مشترك سیاسي موجودیت ـ عادات ـ عنعنات او دین دي ـ اوس به په لنډول وښوول شي چه هیڅ یو یې هم د یو ملیت د موجودیت اویا تعریف له پاره کافي نه دي.

مشترك اجداد د ابتدائي انسان له پاره ډېر مهم وو چه د هغو په زیږېدنې او مړینې کښې د دیني اسرارو وجود تصور کیده. نو ډېرې موهومې کیسې د هغو په منځ کښې موجودې وې. معاصر ملیتونه له مختلفو اوځینې وخت له ډېرو لرې متفاوتو نژادونو څخه مرکب دي.

تاریخي مهاجرتونو، د اوسنۍ ژوند حرکتونو او کړندیو مواصلاتي وسایلو په هر ځای کښې یو اختلاط منځ ته راوړی دی. اوس هیڅ ملت دګډو اجدادو دعوې ته تقرب نشي کولای حتی ځینې ایډیالوجي چه وروستي وخت کښې دګډو اجدادو د افتخار مفکوره یې ډېره ضعیفه کړې ده د ټولو نژادوله منځه یې تفوق وړی دی او ټول انسان ته د انسانیت په ستر ګه ګوري ورځ په ورځ قوت مومي.

د ملیت تشکل او ژوندانه له پاره د ژبې اهمیت د هردر Herder او فیچ Fitche په واسطه ذکر شوی و خو ډېر ملتونه شته چه هغوی خپله ژبه نه لري لکه سویس چه خلك یې لږ تر لږه په درې ژبو ږغیږي. ځینې انګلیسي ژبي خلك قسماً مشابه اجداد لري او په یوه ژبه غږیږي او تر ډېرو وروستیو وختو پورې یې ګډې تاریخي سابقې در لودلې. عنعنات او عادات یې سره نژدې دي خو سره له دې هم مختلف ملیتونه لري چه ډېر ځله یې په منځ کښې متضادې پالیسي هم پیدا کیږي بل مثال چه دغه عوامل په هر وخت کښې د ملیت تأسیس باعث نشي کیدای ناروی او ډنمارك دي دواړه هیوادونه نسبتاً مشترکه ژبه او ګډ نژاد لري خو دواړه ځانته جلاجلا ملیتونه لري عادات او عنعنات د ملیت د تشکیل له پاره لومړی ځل د ژان ژاك روسو له خواډېر مهم عناصر تصور شول. د هیګل ایډیالزم زیارو کیښې چه عقل او عنعنه سره یو ځای کړي او یو مرکب ورځینې جوړ کړي چه ملي روح اویا د ملي

وجدان ویښول یی و بالة خوا صلی معنی یې داوه چه عقل، عادت اوسنت اتوریتې ته تسلیم کړی. بیله کوم شك څخه هر ملت ځا نته عادات، عنعنات اومؤسسات لری خودغه ټول له یوې محلې نه بلې محلې ته فرق کوی اواوس داسې تمایل شتهٔ چه لومړی په یوه لویه قاره او وروسته په ټوله نړی کښې نسبتاً کډ عادات اوعنعنات اویو ډول مؤسسات وجود ولری له بلې خواد او سنیو وسا یلو په تقاضا عادات اواخلاق په ډیر سرعت سره تغیر مومی .

دین داوسنی نشنلزم له منځ ته راتلو نه پخوا د ملیت په تأسیس کښې ډیر مهم عامل وچه دغه کیفیت په عیسویت، اسلام اوهندویزم کښې موجود ودبیلتانه کرښې دملیتونو ترمنځ اودنشنلزم بروز د انسان له دینی تلقی سره سم واولهٔ ډیرو جهاتو د نشنلزم پر مختګ اویا بیرته لویدل ددین په واسطه کیدل دینی تفاوتو نو ځینی وخت ملتو نه ضعیف اوتقسیم کړی دی او حتی چه د نوو ملیتو په منځ ته راتلو کښې یې مرسته کړې ده حتی چه په وروستی وخت کښې ددې مطلب د وضاحت له پلوه دپاکستان تشکیل ډیر ښه مثال دی خو په نړی کښې ډیر ملیتو نه شته چه خلك یې په دین باندې معتقدنهٔ دی بلکه مختلف ادیان لری او دین دهغو په نشنلزم کښې هیڅ رول نه لری .

په پاکستان کښې هم سره له دې چه خپله دولت ددینی مفکورې په نوم تشکیل شوی دی ټول لس یو مشترك دین نه لری اوپه ځینو هیواد و کښې یودین وجود لری خو بیا هم بیل بیل ملتونه لری. دیوملیت په تشکیل کښې ډیر مهم عامل مشترکه ځمکه اویامشترك دولت دی سیاسی مشر ان هم کوښښ کوی چه په همدې اساس ملیتو نه جوړ اوتقو یه کړ ی اوپه همدې مفکوره نوی هیوادونهٔ منځ ته راغلل ځکه دو ی ځانته ځمکې، سیاسی او جغرا فیائی موجود یتونه درلو دل په عمومی ډول ویل کیږی چه دولت والی دملیت په ژوندانه کښې یو عمرانی عنصر دی اوددولت قبلی موجودیت هم د یونوی ملیت په منځ ته راتلو کښې ضرو ری نه دی . په نړی کښې داسې هیوا د ونه شته چه د ځانته دولت خا وندان نه وو. خودتاریخی واقعیتو په اساس دنشنلزم په وخت کښې منځ ته را غلل .

که څه هم ددغو غایوی عواملو څخه ځینی یې دملیتو نو د تشکل له پاره ډ یر ا همیت لری چه ډیر مهم عنصریې یوه ژوندی او فعالهٔ دمرستې اراده ده. ملیت دملیت دتشکیلولو په

فیصلې تشکیل کېږی په دې ډول فرا نسوی ملیت په ۱۷۸۹ع کښې دارادې له تاوده تبارز څخه پیدا شو، دفرانس ملت یعنی دفرا نس دشاهی نفوس پخواله دې وجوددرلوداودملیت داساس له پاره یې ځینی غایوی حالات برابر کړل خونوی شعور اونوی ارادې دغه حالات او عناصر فعال اومؤثر وګر ځول اودیـوې متحدې قوې په څیریې سره متحد کړل. نوی اهمیت اونوې معناوې یې ورله پیدا کړې. هغه شعور چه دغه حالات اودغه عناصر په فعا لیت راولی اودغه معناوې پیدا کوی نشنلزم دی.

دبشر پیژندنې او سیاسی عواملو په اساس ملیتو نه هله پیداشول چه دنشنلزم روح په هغه کالبد کښې چه ډیر پخوا پیـدا شـوی و، ورننوت . په دې ډول نشنلزم اوملیت ډیر نژدې روا بط لری. نشنلزم د فکر یو حالت دی چه دیو ولس په اکثر یت کښې نفوذلری اوغواړی چه ددغه ولس هرغړی تر تأثیرلاندې راولی نشنلزم ملی دولت دیوسیاسی تشکیل دیو ایډیال شکل په حیث ا و ملیت د ټو لې ثقا فتې انرجی اوداقتصادی بنه والی د منبع په حیث تصور کوی. دنشنلزم په اساس د انسان ډیره عالی وفاله ملیت سره ده چه دهغه خپل ژوند په فرضی ډول دملیت په رڼا کښې ریښې لری. دغه مطلب دتوضیح له پاره داتفصیل وړاندې کیږی:

دولس دا کثر یت دافکارو حالت:ـ حتی له نشنلزم څخه پخواهم ځینی افرادوله نشنلزم سره دنژدې احساساتو اعتراف کاوه چه دغه احساسات په افرادو باندې محدودوو. و لس هیڅکله ثقافتاً سیاستاً او اقتصاداً خپل ژوند دملی ګروپ په مقدراتو پوری مربوط نه حس کاوه . دخارجی تهدیداتو او یا فشارو په واسطه به دنشنلزم احساس په ولسونو کښې پورته کیده لکه چه په یونان کښې دالکسندرد جنګو په وخت کښې پیداشو ـ اویاچه په فرانس کښې دفرانس اوانګلستان د سل کلنو جګړو په وخت کښې پیداشوی و ـ خو دغه احساسات په ډیرسرعت سره له منځه لاړل .د یوتا ریخی تکامل اویادیوقانون په حیث دفرانس له انقلاب څخه پخوا جنګونو عمیق ملی احساس نه دی پیدا کړی . په دینی اونسبی جنګو کښې جرمنیان دجرمنیانو اوایتالویان دایتالویانو په مقابل کښې جنګیدل ـ بیله دې چه دخپل عمل او دوروروژلو ماهیت تشخیص او حس کړی . عساکراوملکی خلك چه د خا رجی حکمرانانو په خدمت کښې د اخـلید ل ـ اوپه ډیراخلاص اوصداقت به یې خدمت ورته کاوه دملی احساس فقدان ثبوتوی. (بوریبا)

سید احسان الله هیر

بوډا

په کیڼ باړ خو یې غټه تو ره ز خه وه پنډ اوغټ پټکی یې دتندی ګونځې څه ناڅه پټې کړې وې اوڅه د تندی ګو نځې یې چه ښکاریدې هغو یې دعمرډیرو پسر لیواو خزانو تودو او سړ و حکا یتو نه کول . د وروځو ویښته یې په سترګو راښکته ښکاریدل او کم دیده سترګې یې په کولکونو کښی ننوتې- ننو تې وی دخولې - درې څلور غاښو نه یې دتمبا کو داستعمالولو په اثر تك ژیړ او حتی تور شوې وو . دا وړ ی ګر می خپل اخری زور لګولی و په تیره بیازمونږ په شا و خوا کښې ګرمی دومره زیاته وه چه بوډا هم زوړ پوزه کی دیوه دیوال دسهار سیوروته غوړلې و...

ماته چه ملګرو ویلی وو حقیقت یې درلود رښتیا چه سل کلن بوډا سره، دلنډو وا قعی کیسو اوافسانو تصور زښت زیات و خوار مان چه حافظې اویاد ورسره ښه یاری نه کوله او اکثر ه برخې به ترې ور کې ور کې شو ې .

په هغه سهار چه زه دده د کېنا ستو ځا ی ته ورغلم نو سهار لا ښه دوخته واودخان دبرجورې کلاسوری ترغرمې پوری ددرې څلور ساعتو نو دپاره دلمردنه پریښو د لوذمه وهله .

زه چه له سپین ږیری بوډ اسره د د ه په پوزه کی کیناستم نو که څه د ډ یر عمر په تیریدو کښې یاد ا وحافظه تر ېنه تللې و ه او لږې خبرې یې نیولی شوې خو ځینو برخو کښې یې خپل تعقلی قضا و تو نه او په ځینو واقعواوپیښو ښه آزاد انتقا دو نه کول .

ده ماته ځینې داسې افسانې هم تیرې کړې چه د محیط رنګ پکښې زیا ته برخه درلوده او هما غه (د دیو او پری - دښا پیریانو او شهزاده ګانو) موهومی افسانې وی خو ددې افسا نو سره سره به یې خپل د و لس ځینو پیښو ته هم اشا ره کو له . یوو ار ته به یې دخیالی پیری مریدی قصې راواخستلې اوویلې به یې چه :

« ځوانه !داز مونږ په ولس کښې چه دا ... صاحب ته خلك دومره ډیر نذرو نه ور وړی غټې -غټې پیمانې ور کو ی اوپرولس کښې یې دومره لوی کلنګ جاری دی زه د دې له اصلی خبرې اوقصې نه خبریم.مابه ورته په ډ یر شوق ځان راسم کړود یاد داشت کتابچې ته به

مې کلم برابر کړ واو خیال به مې وچه داخل به یې موهوم خیالونه پرې ایښی وی اوڅه خپل واقعي سر گذشتو نه به ما ته وو ایې نوورته به مې وویلې چه :

«ښه بابا ! نو اصلی قصه یې څنگه ده؟ » ده به خپل لړزان لاس ـ په داسې حال کښې چه له سپینو و یښتو لا ندې یې د خولو څاڅکی ځلیدل ،مخامخ لرې سیندته ونیو اوو به یې ویلې چه :

«زلمیه ! دا مخامخ سیند گورې . داسیند زمونږ له یادسره په همد غه ځای بهیږی دا ...

صاحب په اصل کښې ماهي گیر وخوهسې خدای پاك یې هغه دی قوم هم بدل کړو اوعزت هم خدای ور کړو - » بیا به څه دفکر په څپو کښې لاهوشواود ماهی گیر سره به یې دخیال دسیند څپو فکرله ځا نسره وړی وا و چپ به شو.ما به پرغږ کړوچه « ښه بابا » غاړه به یې صافه کړه اوو به یې ویلی چه «ښه زلمیه! څه مې ویلې ؟» ما به ورته وویلې چه : « بابا هغه د .. صاحب قوم» هو زلمیه! دا خوداسې قصه ده چه..دې صاحب په زلمیتوب کښې ماهی گیری کوله چه مازیگر به لمر په غړ غړ و شونو خپل جال به یې راواخیست خپل شناز (دلا مبو مشك) به یې شاته واچولو اودماهیانو نیولو د پاره به سیند ته روان شو . تمامه شپه به یې دا سیند کنج په کنج لټاوه دماهیانو ځایونه، ډنډونه چړونه اوگو درونه ورته په سیند کښې داسې معلوم وولکه دخپل کورمټ او کټوې خوار ډیره خواری کوله خویوه یې نه دوه کیدله او سبا به چه کورته راتلو نودومره ماهي به یې ایله ـ بیله نیولې وو چه خرڅ به یې کړل ـ پرې به یې دجوارو ار گانه پوره شوه اویا کله به پوره هم نه شوه او سخته خو به هغه ورځ وه چه زلمی ماهی گیر باندې به سیند بخیل شو او یو مچو ټکی به یې هم ونه نیو ـ زلمیه هغه وخت په دغه .... صاحب با ندې ډیره سخته ورځ وه خو خدای یې چاره و کړه . او هغه دا چه یوه شپه چوپه چو پتیاده د کلی خلك کر ار کرار په خپلو تودو کورو کښې پراته وو او دزمی دیخنی نه هیڅوك سم گر ځیدلی هم نه شول خوماهی گیر خوار ناچار او مجبورو چه خپل کسب و کړې نو په هما غه سړ ه هو ا کښې چه خلك په بړ ستنو کښې نه تودید ل دماهی گیر دسیند په ډنډو اوبخو اوبو کښې اندامونه بی حسه شوی و و . په دې شپه خوار ماهی هم ونه نیول او به نه امیدی دسیند غاړې ته راووت .

نودسیند دغاړه نه یې څه و چه پروړه ـ وابنه او

او بوټی را ټول کړل تیلی یې ورته راوو یست
او اور یې ځان نه بل کړو . خواوریی لامړ ـ
مړلګیده اوله لمبونه یې دود ونه زیات و و
دودیې واوسودیې نه و. خواریخنی پسې اخیستی
وچه په دې وخت کښې یـو تور سړ ی چه
سر تا پایه پورې په تو ر و و یښتو کښې پټو
په یـوه تور خیګ ا و د لا مبلو لوی مشك
باندې په سیند کښې لاهوراغی له زلمې ماهی
ګیر سره وېره پید ا شوه ا و څنګه چه له
سیند نه را ووت اوغاړی ته راغی نو په زلمی
یې غږ کړ و چه :

(زلمیه مه ویریږه زه له تاسره څو خبرې
لرم) زلمی ته لږ څه د زړه ډاډ پیدا شو او
څنګه چه تور سړ ی ورته نږدی شو نو ورته
یی ووی: چه زلمیه تاپه دې کسب کښې ډیرې
سختی ولیدې نور به زه درته دعا در کړم .
ځه کلی ته لا ړ شه دم او دعا، تور کی او
تعویذ کو ه خد ای به پراخه روزی در کړی
نوماهی ګیر ورته ووی چه :

پیره بابا! زه خو په خط نه پوهیږم نو تور پیر ورته
څو کرښې و ښو دې. یاره پیر انو کرامت
خو نو حق دی کرښې نه وې د ټو لو مرضونو
علا جو نه وو او پس له هغی شپی ماهی ګیر
خپل جال کیښو دواو په دم دعایی پیل و کړو

چه تر نن ورځی پورې هغه دی خدای یی ښه چلوی
او یاره څه به درته وایم چه له خانانو نه یې هم
واړوله» مابیا چه دا قصه واوریده او پوه شوم
چه یاره داخونو دموهو مو افسانو نه هم ورهغه
خواوه نو ورته می وویلی چه :

«بابا ! ته ماته هغه قصې ووایه چه تا په خپلو
ستر ګو لیدلی وی دا خبرې خو خیالی دی
اود ۰. ۰ صاحب خو پلار نیکه هم په همدې
پیما نو ټولو لو کښې تیر شول ۰ د هغو خو
ننني نه ده چه دا قصه یې په ولس کښی مشهوره
کړ ې ده » په د ې و خت کښې سپین ږیری
بو ډایوه اوږده ساه را اښکله او په داسې حال کښې
چه څه زما په خبرویې ماته یو سخت اعتراض
ښود وما ته وو یلې چه : « ښه ـ ښه خوتا چه
چه زمانه سر ګذ شتو نه غوښتل نو تا به زه پوه
کړی وم زماخو نو ډ یر ډ یر سر ګذ شتو نه
یاددی زه به در ته ډیر سر ګذشتو نه ووایم خو...»
مایې خبره ورپریکړه اوور ته مـې وویلې چه:
«ګو ره بابا! هماغه قصې به راته کوې چه ته
ښه پو هېږ ې چه ستا په مخ کښې تېرې شوې
و ی نه داچه د ۰۰۰ صاحب د اصلی افسانې
په صفت د ې له خلکو نه او ر ید لی وی»
ده راته وویلی چه.

«ښه ـ ښه اوس پوه شوم . دو مره سر ګذ شتو نه

به در ته ووایم چه سردې په درد شی او بیا یې اوریدو ته را نه شي.» ماو رته بیا په ډیر شوق ځان راسم کړو او په داسې حال کښې چه د دیو او ښاپیریو اوږدو افسانو زمونږ نه زمونږ وخت دقاف غرو ته وړی واو نور دخان د کلا د دیوالو سورې هم په دیوال ورننو ته ماسپین ږیرې بوډاته وویلې چه :

«بابا! اوس خو نوره غرمه شوه . ته به دې سر ګذ شتونه په یاد کړې اوزه به لیکلو ته لږ څه ځان سم کړم. راځه چه دخان دیرې ته لاړ شو هلته د ګورو ـ ګورو ونوښه ګڼ سور ی دی .» دموا فقې دپاره یې خپل کوږ اوږ لرګی باندې زور واچاوه اومخ په دیرې روان شوو . په دیره کښې چه کینا سنو نـو د ه خپل سر ګذ شتونه بیاراته ترمازیګر پورې وار په وار دارنګه تیرول او ما په خپله دیـا د د ا شت کتـا بچه کښې دافسانې مهم ټکی دیاد داښت په تو ګه اخستل..

ده راته دلومړی ځل دپاره داوږدو بابولالو په څیر د خپل کور نه را شروع کړه چه؛

«زلمیه! پخوانی وختونه داوس په شان نه وواوس خو شکر دی خلك ډیرسم شوی دی زه چـه زلمی وم دادو دو نه ـ رواجو نه بالکل سخت وما سره مې پلار دواده په کشاله کښې هېڅ مرسته ونه کړه او په ډیر زیار مې دپنځه دیرش کلو په عمر واده دخپل لاس په ګټه ځان ته و کړو او ډیره آرز و مې در لوده چـه زه دیوه زوی خاوندشم. دخوارانو ملګری خدای دی که د خلکو په لاس وای نوزوی خوڅه چه وا لله که به چا لور هم را کړی وای . اولاد د خدای پاك ډیر لوی داد دی . ما ته خدای اول اولادزوی را کړو ـ زلمیه څه به دې سرخوږوم په ناز ـ نازمې نازولی لوی کړو او ډیررا باندې ګران واود ګرانښت سبب خویې هم معلوم واوهغه داچه پس له ده نه ماته خدای درې زامن او دوې لوڼې را کړې . مګر یوهم راته پاتې نه شو . څه واړه اوڅه غټ په حق ورسیدل او هر یوه راته جدا داغ پریښود . زلمیه ؟ زما نه ډ یره تیر یږ ې او قصه لنډه ـ لنډه کیږی زما د خدای په لویه دنیا کښې همدا یوزوی واو څنګه چه ځوانی ته ورسیدو نو مور یې هم خد ای وا خیسته او یواځې ماته راپا تې شو . مو ر به یې تل و یلې چه خدایه ! ترهغې مې مه مړه کوې تر څو چه مې دایوارمان تر سره شی اوهغه داچه دیونس سره ډولی په خپل انګړ کښې ووینم او خپل مخ کښې ورته واده و کړم . مګر دا ار مان یې تر سره نه شو او ار مانی ګور ته لاړه .

دیونس دمورد مرګ نه وروسته دیونس دپاره
واده زما یواځنی آرزو وه اوتل به مې همدا
یوه سودا په خپل سر کښې ساتله چه زماخود
پلار ډیر زامن وو په مشرانو یې ارمان ختلی
واوزه خویی کشری زوی وم. زما واده ته یې
وسه ونه شوه اوما د خپل لاس په ګټه ځانته
واده و کړ واوډیرې ترخې مې ولیدې . نو یونس
خوزما یوزوی دی اوپه ډیر نازمې لوی کړی
دی . زه باید هر څنګه چه کیږ ی یونس
ته په خپل لاس واده و کړم. مادخپلې خواری
غریبی په سلسله کښې یو څه پیسې در لودې
خو که رښتیا درته ووایم نوهغه ټولې دیونس د
موردمړینې په ګورو کفن اوخیرو خیرات کښې
رانه لاړې اوتش دجومات لرګی - خالی لاس
پاتې شوم . زلمیه باورو کړه چه ما بیاوروسته
له هغې نه ډیر زحمت وویسته. لږې پیسې مې
پیدا کړې او سود اګر ی می پرې شر وع
کړه . خدای را باندې رحم و کړواو په لږه
موده کښې دیوڅه پنګې خاو ند شو م . بیا
ما او زوی مې په دغه پنګه باندې پوره سودا
ګری شروع کړه اولا پوره دوه دوه نیم کاله
تیر نه وو چه په ولس کښې ماته یوه سرمایه دار
سوداګر په صفت ګوته ونیول شوه او هر چا به ویلې
چه یاره میر باز ا وس ښې پیسې لر ی . نو

زلمیه زه چه پوه شو م چه لږ څه په پښو
ودریدم او پنګه منګه مې پیداشوه نو بیامې
خپله هما غه پخوانی ارزومخې ته نیغه ودریده
دا وخت د یونس سره هم د خپل واده خیال
پیدا شوی واو مالا دده د واده د پاره په ولس
کښې ستر ګې ګرځو لې چه د یوه او بل
د خو لې نه مې واوریده چه یونس خودخانمیر
په اور مین دی. یاره زلمیه! د خانمیر لو ر نه وه
هسې د حسن او جمال ښاپیری وه او په لږ و
ورځو کښې یې د یونس نه پرته سل نور
زلمیان خریداران پیدا شول. ما په دې برخه
کښې ډیره تاذی و کړه او ګمان مې دیونس
په مینه د خا نمیر له لور سره هم پوره پوخ
شوی و، نو ددې د پاره چه د خا نمیر لور
د یونس په نامه کړم په کلی کښې مې د
جرګی بند وبست و کړو . خو ما لاریباران
پوره نه وو کتلی چه یوه او بل راته وویلې
چه د خانمیر په لو ر باندې د خان مشرزوی
(عجب خان)مین دی او هر کله چه د هرات
نه راشی نو په نجلی به مر که کوی. هغه
د همدې خبرې د پاره نیاز محمد د خانمیر
زوی له خپل ځان سره یو ځاې ګر ځوی .
ما به ددغو خلکو ځوا ب په د ې تر تیب
ور کاوه چه خانمیر خو زمونږ په شان غریب
سړی دی او د خان زوی خو نو .... او په ولس

کښې هیڅکله هم داسې نه دی شوی چه د خانانو وینه دې په غریبانو ګډه شی . عجب خان به ځانته په خانانو کښې کومه خان خیله په نامه کوی او د خانمیرلور خوزمونږ غریبانو سره جوړیږی ـ څه به دې سرخوږوم زلمیه ! ما خانمیر ته د رویبانو جرګه ولیږله هغه په داسې حال کښې چه دا خبره یې په طبیعت ډیره برا بره راغلې وه نو د اول ځل د پاره یې رویبارانو ته و ویلې چه یاره دا زوی مې نیاز محمد له عجب خان سره سود اګری د پاره هرات ته تللی چه هغه هم دلته وانو داخو څه خبره نه ده یونس نه به زه څوك بنه زلمی پیدا کړم بنه پوره می خوښه ده خو ... بیا رویبارانو ورته وویلی.

چه د جلی پلار خوته یې او نیاز محمد خو ستازوی دی که ستا دې کارته خوښه کیږی نو د نیاز محمد به هم ارومرو کیږ ی هماغه و چه مونږ ته یی هو کی را کړه او څو ورځی وروسته می بنه دمزی کوژ ده هم و کړه او د خانمیر دلور د ستمال مې د یونس په نامه واخیستلو خوزلمیه! دا مونږ اولس ډیر بد ولس دی ...» په دی وخت کښې یې په ضعیفو ستر ګو کښې د او بنکو ډنډ ونه جوړ شول ستر ګې یې ډکې ـ ډکې او خبره یې په ستونی کښې غوټه شوه. ما دده د خبرې انتظار ایستلو او دده شونډې له ډیره غمه رپیدلې . یوه شیبه وروسته یې یواوږ دا سویلی و کړو ، ساه یې ونیوه او په خبر و یې پیل و کړو چه:

«زلمیه! د یونس له کوژدې نه یوه میاشت نه وه وتلې چه عجب خان له هرات نه د نیاز محمد سره را ورسیدو او څنګه خو چه د یونس له کوژ دې نه خبر شو یو وار یې یو ډیر لویو بدو ته ملا وتړله او دعوه یې جوړه کړه چه خانمیر خپله لور ما ته په وړو کتوب کښې را کړې ده او نیاز محمد یې هم خپل ځان خواته واړاوه مګر خانمیر یو مسلمان سړی و او هیڅ له حق نه نه تیریده او پخپله خبره کاك و دریده چه ما خپله لور یونس ته ور کړی ده او د میر باز کاکا د کوژ دې په ډوډی چه ولس ته یې ور کړه ټول ولس خبر دی . مګر د خان زوی دا اړه نیوله چه په وړ کتوب کښې چه څوك خپله لور چاته ور کړی نو کوژ دې ته یې څه حاجت نشته یوا ځې دا رنګ خلك واده کوی. دا دعوه داسی معمولی دعوه نه وه مونږ بیا سره محکمې ته شو او د ولس هغه پخوانی خلك دې ودان وی ټولو څه چه د حق لاره وه پرې شاهدی و ویلې مګر عجب خان په حکومت کښې همدا یوه خبره کلکه کړې وه چه:

که خانمیر خپله لور ماته نه وای را کړی نو ولې یې خپل زوی (نیازمحمد) له ماسره تر هراته پورې لیږلو . خو دا خبره هم څه د اعتبار وړنه وه او د دعوې چه څوورځې تیریدې نو مونږ ترې په شرع سره وګټله خوزلمیه که رښتیا راباندې وایې ډیرې پیسې مې په دغه دعوه کښې ولګیدې او ایله دومره څه راپاتې شول چه په زیار مې دیونس واده پرې جوړ و کړو....» په دې وخت کښې بیا چپ شو د خپل زاړه پټکی شمله یې سترګوته ونیوله او په لپو ... لپویې وژړاې. کمزوری سترګې یې له ډیرې ژړانه سرې سرې واوښتې او ښه ساعت یې ځان په ژړا ستړی کړو. بیا چه ښه ځنډ تیر شو او بوډا هم په دې پوه شو چه ما په ډیره بی صبرۍ د قصې د نتیجې انتظار ایستلو نو بیایې زړه را کلک کړو او خپله د خبرو سلسله یې جاری کړه چه :

«زلمیه! ښه په شوق مې دیونس جان واده جوړ کړو هرې خواته د خوښې مجلسونه وو ښه د زړه ساز مې هم را غوښتی و او څه به نو د هغو شپو ور ځو د خوښیو حکایت درته وکړم د نکریزو شپه وه د کلی ښځو د ساز سره نکریزی ویوړی او نیمه شپه وه چه زمونږ په کور کښې هم د واده له دودو سره سم هلك په تخت کښینول شو او په ګوته یې نکریزی پورې شوې. خونه پوهیږم زلمیه چه دغې شپې ته دخوښی شپه ووایم که د غم شپه ـد سباوون مهال و د کلی ملا په مسجد کښې اذان و کړو او زمونږ د کلی سړی مخ په مسجد روان شول . یونس ډیر دینداره زلمی و او په دې شپه یې هم غوښتل چه د جماعت لمانځه ته ځان را ورسوی نو په هماغه دوا ده جا مو کښې د خا ن د باغ شاته داوداسه دپاره تیرشوی و. مونږ لا څوك په جو ما ت کښې وو ا وچالا اودس کولو ، چه ناڅاپه څود نفنګچې ټکونه وشول .له دې ټکوسره زماپه زړه کښې هم ټکه وشوه خوبیامی وروسته د ا ګما ن و چه څه دواده شپې دی دیونس کوم دوست به چیرته څه ټکو نه دخوښی دپاره کړی وی . نورو خلکو هم څه ونه ویلی. لمونځ ښه په کراره وشو خوهغه وخت چه زه له لمانځه نه ورو سته مخ په کور روانیدم نو ماسره ددې ټکونو بیاهم ویره وه، په کور کښې مې دیونس پوښتنه له ښځو نه چه د واده له پاره زمونږ په کور کښې راغو نډې شو ې وې ، و کړه مګر هیچا دیو نس پته رانه کړه زه دیونس په پلټون کښې شوم .هواهم په دی سوخت کښې ښه روښانه شوې وه او ښایی چه دیونس په سرو وینو کښې ګلګون بی ګناه مړی به ډیر و خلکو هلته لید لی وخو دو یرې هچا اظهارنه کاوه

ترڅوچه‌مې پخپله پیدا کړو .... «په‌دې‌وخت
کښې دبوډا په‌سپینه زیره بیاد اوښکو سیلاب
راسم شو اوښه ځنډ بیا چپ‌وهغه‌وخت‌یې چه
د خپلو خبرو سلسله جاری کړه نوویې‌ویلی
چه «په ر ښتیاچه د خوا رانو او خا نانو سره
برابره نه‌ده مابیا په‌حکومت اومحکمو کښې
له‌عجب خان سره دعوې شر وع کړ ې خو
نه بیاد یونس قاتل پیدا شو اونه په عجب‌خان
باندې چا د یونس دقتل شا هدی ور کړه.
واده‌په‌غم‌بدل‌شواوناوی‌دپلار‌په کور پیغله‌پاتی
شوه مګر ماهم په‌داسی‌حال کښې‌چه‌بیامې‌له
غمونه‌وطن‌پری‌ښوده‌په‌حکمت کښې‌مې دولس
دټولوسپین‌زیرو‌په مخ کښې‌دا اظهارو کړچه :
ا ې خلکو!زما خودزلمی زوی دبی ګناه
شها د ت قا تل پیدا نه شوتاسو خبر ا وسیء
هر چا چه د خا نمیر د لـو ر کو لوته
زړه ښه کړ و هما غه ز ما دشهید
زوی قاتل دی ا وله دې و ر ځې ور وسته
مې دعو ه په حکو مت کښی ناحله پریښوده
او خپله بیابل وطن ته‌لا ړم ـ مګر خان میر
ته دې خد ای پاك خیرور کړی له‌خانـانـو
سره خویې څه‌نه‌شو کو لای نوهغه هم پس‌له
ما څخه کوراو کلی پریښی و . خپل ز وی
نیاز محمد یې له خپل کو ره وشاړه اوخپله
بیا په کډه بل وطن ته تللی و .
زلمیه ! ما بیاله غم نه پنځه ویشته کاله
در په د ره په پرد یو ملکو کښې تیر کړل
او هغه وخت چه غم مې ښه سوړ شو نو بیاد
کور خواته را روان شوم په دې‌وخت کښې
ما او زما کور دهغې‌مرغی‌دځالې مثال‌درلود
چه په زیا ر ـ زیاریوه ـ یوه خځل او وانښه
سر ه را ټو ل کړی ځا له جوړه کړی او په
هغه ځا له کښی بیا بچی لو ی کړ ی مګر
چوچیان یې وز رو کړی ترینه وا لوزی ا و
خپله یواځې و جود بلې خواته لا ړه شی او
ځاله یې دحوا دثوطوفانو ا و دمنی با د وته
پاتې شی زه چه بیا بیرته وطن ته راغلم زما
کور ـ د کلی خلکوویلې چـه عجب خـان
ونړاوه اوڅه چه‌پکښې‌ووهغه یې خپل کورته
ویوړل مګرزه چه وطن ته بیرته راغلم‌داهغه
وخت وچه عجب خا ن هم شپږ کا له دمخه
مړشوی وخانمیر هم په دې وخت کښې زوړ
واو له خپل کهاله سره و طن ته را غلی واو
نازنینې دجمال خاوندې لوریې په کور کښې
سر سپین کړی و » بوډا چه داقصه تمامو له
نود لوید یزو غرو په سرداسمان ګر یو ن
په وینو سور شوی واوپه‌مازیګر نی‌افق کښې
سور شفق جوړو . د ه‌ماسره دخدای په‌امانی
حال کښې د نورو سرګذشتووعده هم و کړه
مګر باورو کړیء چه‌دده‌دزوی‌افسانی دومره
تراژیدې جنبه در لوده چه زه‌بیـادده دنورو
افسانو اورید لوته حا ضر نه شوم . پای

عبدالله بختانی

زوړ حاکم

هغه دخپل آب وعزت په ساتلو ډیر ټینګ و او خپل رعب اودباو یې ښه ساتهٔ.

هغه دحکومت نه و یریده اود نوی حاکم نه په ډار کښې ؤ.

هغه سره دحکومت د عدالت او دعدالت دبی لحاظۍ ویره هم وه.

بیا هم هغه خپل حیثیت اووقار ښه ساته.

هغه خپل هیبت دخپلو نو کرانو، بز گرانو، باغوانانو، ژرند گړو او مزدورانو په زړونو باندې حاکم کړی ؤ.

دهغه ناظر اوشاطر،

دهغه میرمن او مزدوره،

دهغه لوڼې اوزامن ټول به ترې وېرېدل او چا یې په مخ کښې سوڼ هم نه شوای کولای.

دهغه و چولی تریو، لهجه تنده، ژبه اوږده اولاس لنډؤ، کله به چه چای ناوخته شو.

کله به چه دچلم په ډکولو کښی لږ ځنډ پېښ شو...

نود خوار کی مزدور په پلار باندې به دهغه په خوله د خدای بې شمیره لعنتونه ورېدل.

کله به چه د کوم پټی ورخ وران غوندې ؤ.

کله به چه چڼچڼو غنم خوړ لی وو.

کله به چه دمزدور، دهقان او همسایه غوا خوسی په فصل کښې گډ شو، نو دهغه په هاها او غړمبا به ځمکه او اسمان لړ زیده مسئول سړی به په دې ډار کښې ؤ چه اوس به دهغه دتمانچې زړه زما په گوگل کښې تش شی.

اوس به هغه راباندی خپل زړه یخ کړی...

اوس به مې در گونو توده وینه سړه کړی...

کله به چه هغه له قهره تک سور شو...

کله به یې چه دخوارانو پلار، نیکه، ښځې پیر او مذهب ته مکرر ې ښکنځلې و کړې.

کله به یې چه تمانچې ته لاس وروړ...

تمانچه به کله له قاشه نه ایستل شوې وهٔ او کله به لا نه چه «خدای دوست» ناظر به وروړاندی شو.

دلاس نه به یې ونیو، عذر اوزاری به یې و کړلې چه:

صاحبه! بد یې کړی دی بیا به دا سې نه کوی... !!

صاحبه! داځل یې وبخښه! له دې گناه نه یې تیر شه! یوه گناه خدای هم بخښی...

صاحبه! دی په ما ډیر گران دی،

دی ستا مخلص نوکراو وفادار سړی دی ..

زه دده مرگ لیدی نه شم ..

دخدای په خاطر تري تېر شه ! که یې نه پریږدې ، هـن! ما یـې په عـوض وواله !! ..

دخدای دوست عذرونو اوزاریو به د هغه زړه څه نرم کړ ، هغه به لږ سوړشو ،مجرم به یې دخپلې مخې نه کورې کړ ...

(اجل دې نه ؤ چه ناظر دلته ؤ، ما وژلې خوخدای دوست ته دعا کوه ، زه دی خپه کولی نه شم .... » دا به د هغه د عفو ې اعلان ؤ .

خدای دوست دهغه په مزاج ښه پوهیده کله چه هغه په کارلګېدلی و هم یې دی ناظرؤ ، په هغه وخت کښې خو له هغه سره چاخبرې نه شوای کولای ،هغه ته رسیدل ډیر ګران ؤ .

هم داخدای دوست ؤ چه دخلکو کارونه به یې په هغه اجرا کول دخلکو او د هغه ترمنځ به واسطه شو ، ټوله راکړه ورکړه به دده په ذریعه وه ، په هغه وخت کښې هم دده ښه سړیتوب مشهورؤ او اوس هم په نوکرانو کښې داعقیده ټینګه ده چه :

خدای دوست رښتیا دخدای دوست دی، دخدای په بندګانو یې زړه خوږ یږی ، که خدای دوست نه وای نو خدای زده چه له هغه دخدای دښمن سره به موڅه کړی وای.....؟

خلکو به په کورونو اوجوماتونو کښې خدای دوست ته دعاګانې کولې ، دی په هغه باندې هم ډیر ګران ؤ، دهغه پټ رازورته ښکاره اودژوندانه ټول رموز او اسرار یې ورته څرګند ؤ .

هغه به دده سره په پرده کښې ډیر خوږ ؤ خود خلکو په مخ کښې به یې ورسره تندی کوله اوله دهسره به لا هم تریخ شو په پټه دهغه ټوله سلامشوره به له ده سره وه خو په ښکاره به یې د خلکو سترګې تورولې اوهرچاته به یې دابوده چه دی دهیچاپروانه لری .

یو ورځ هغه په یوه لیری منطقه کښې دخپلو ځمکو اوفصلونو دکتلو دپاره ولاړ او ناظریې هم په جلب کښې ؤ .

هلته هغه د خپل عادت سره سم به یې په نه څه خبره باندې ډیر قارکاوه ، ډیریې دتمانچې په ویشتلو سره ووېر ول، ډیر تري نه خدای

دوست خلاص کړل او دی یې پرې نه ښود چه څوك په تمانچه وو لی .

دهغه رنگ تك سوراؤ ښتی و .

دهغه حرارت به قدم په قدم زیاتیده .

کله به یې خدای دوست ته هم ښکنځلې وکړې .

بیائی هم د ډیر و خلکو په حق کښې دخدای دوست عذر مانه اوده دعذراوزاری په وجه به ډیروخلکو دگناه اوخطا نه تیرشو اوڅوك به یې په تمانچه نه ویشتل .

کله چه دهغه دباو لوړې پوړی ته وخوت نوده « شیر زی اکا » وارؤ .

ډیر قار منت یې پرې وکړ .

دشیرزی اکا گناه ډیره ستره وه ، ده دهغه ځمکه په اجاره اخستې وه او دغنمو رشه یې لږ ه ناپاکه غوندې وه سپین زیری اجاره دارښې پخې اوغټې ښکنځلې واوریدې ، په ستر گویې اوښکې ډنډ شوې ، هیڅ یې ویلای نه شوای ځکه چه دسرخطره وه .

هغه دقار نه تك سوراو ښتی ؤ .

څوځله یې خپلې تمانچې با ندې گو تې و وهلې ، خو خدای دوست به مداخله وکړه او ...

هغه دقا راو دباؤ یو قیامت کوز کړی ؤ .

څوك چه هلته وو ، دټولو شونډې سپیرې دشیرزی اکا ستو نی وچ او با نه لا مده وو .

د ډیر زیات قهر او غضب په حالت کښې تمانچه یې له قاشه وایستله ، شیرزی اکا ته یې نیغه کړه ..

هیچا به هیڅ ویلای نه شوای .

سپین زیری شیرزی به ریږ دیده .

خدای دوست لکه نوروغوندې پخپل ځای کښې نیغ ولاړو او هیڅ به یې نه ویل ،

هغه څو ځله خدای دوست ته وکتل .په مرموزو کتو کښې به یې د مداخلې امداد ترې وغوښت .

هغه پوهیده چه په دغه سپینه ورځ په دغسې سپین میدان کښې ، ددغه سپین زیری دسرو وینو تویول پټیدای نه شی . او تور داغ به یې په سپینه لمن کښې پاتې شی .هغه پوهیده چه په داسې کار دحکومت هیڅ ځواب ویلی نه شی .

هغه پوه ؤ چه د نورو بزگرانو زړونه هم ترې شنه دی او که وخت راغی ټول به پرې گو تې و لگوی .

بیا هم د هغه درعب او هیبت ساتل ضرور وو ، او خدای دوست باید داسې کار کړی

وای چه نه سیخ سوی وای او نه کباب .

خدای دوست ورو غوندې قدم پور تـه کړ ،

ټولو ته داتمه پیداشوه چه اوس به خدای دوست دسفارش اوعذر وزاری په وسیله دهغه قارسوړ کړی او شپرزی چه بې له هغې د گور په غاړه ولاړ ؤ ددغهٔ نا ثابې مرگ نه خلاص کړی .

خدای دوست ورو ړ اندې شو ، عذرونـه یې شروع کړه .

خو هغه خپل قار شپه په شپه زیا تاوه خدای دوست د عذر په صورت د هغـه زیره ونیوله او د شپرزی اکا د سپین زیر تـوب مراعات اودهغه معافی یې ترې وغوښتله ،

خو ونه شوه ، هغه خپله عفوه ډیره قیمته خرڅوله ، هغه غوښتل چه غنم باید ښه پاك او ستره وی او نورو دهقانانو په تېره بیا اجاره دارانو ته یو ښه عبرت شی .

هغه په شپرزی زیات قار کاوه او نـورو ته یې زور ښودهٔ .

خدای دوست ته یې وویل :

ناظره ! نه کیږی ، له مخې نه مې لیرې شـه !

دې دخدای دښمنانو سره زه ښه پوهیږم ، دوی غواړی چه زما په ستر گو کښې خاورې وشیندی .

اوس به زه خپله مسلمانی دې بې انصافو ته وښیم !

په دې وخت کښې یې ناظر ته هم ډیرې ښکځلې کړې وې او دی یې ده د کلنی معاش په حساب کښې ښه خپه کړی ؤ ،

ناظر ته دې وضعې او دعذر ونو نه منلو زیات زور ورکړ .

دی په عذرونو کښې ښه ستړی شوی ؤ ،

د هغه له مخې نه ایسته شو ؛

د شاد طرف نه یې ور تا ؤ شو ،

د ملانه یې غېږ چا پیره کړه ،

دشپرزی اکا خوا ته یې پورې واهه ،

په لوړ او دتمسخر نه ډك غږ یې وویل :

وله یې که نر یې ! ! !

(د۲ پشتی پاڼې)

د کونړ له سردرونه - د سپین غرله ښاپیرونه
د لغمان له ښکلو څو کو - په مستی را کوزیدلې

د کابل لاره ئی پرې کړه- د خیبر نه شوې ورتېرې
پېښور کښې شنه ښونه - کروندې ئی جوړولې

سوات له خپل جنتی ملکه باړه راغله له تیرانه
د کابل سره په ګډه ئې د ژوند و پلې بدلی

د کابل د سیند او به وې ؟نه -د مورد خوا شو دې وې
له سینې د پښتو نخوانه چه سیند و ته بهېدلې

ودانی -مینه، وروری ئې وه له ځان سره راوړې
چه په سختو هسکو غرو نو کښې ئې لارې وایستلې

په خوږه مینه، نر می شوې دا ټك په سیمه ګډې
ابا سیند له ډېرې مینې خپلې غږ کښې ونیولې

منظره د خوشحالی ئې د شاعر د سترګو وړوه
غرونه غرونه-لاندې باندې- پرزېدلی هسکیدلې

له از له د اورور ی ده ترا بده به هم او سی !
په هیڅ ډانګ به بیله نشی هرقوت که باندې بلوسی!

6 JUN 7 1962
Cont Copy

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M.Sidiq Rohi

Coaditor : M.Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه